# د اقبال ژوند

## حیاتِ اقبال (پښتو)



ژباړن

ډاکټر عبدالرؤف خان رفیقي

# د اقبال ژوند

## حیاتِ اقبال (پښتو)

ژباړن
ډاکټر عبدالرؤف خان رفیقي

اقبال اکادمي پاکستان

**بروشر سیریز..............۴۱**

**ناشر**
**محمدسهیل عمر**
**ناظم**
**اقبال اکادمي پاکستان**
**(حکومتِ پاکستان، وزارت ثقافت)**
**شپږم منزل، ایوان اقبال، لاهور**
**ټلیفون** : 510 -6314 [42-92+]
**فیکس** : 4496 -631 [42-92+]
Email: iqbalacd@lhr.comsats.net.pk
Website: www.allmaiqbal.com

ISBN 969 – 416 – 384 – 6

## کتاب پېژندنه:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | د اقبال ژوند |
| ژباړن | :: | ډاکټر عبدالروف خان رفیقي |
| خپرونکی | :: | اقبال اکادمي پاکستان |
| چاپ کال | :: | (۲۰۰۷م) کال – لومړی چاپ |
| چاپشمېر | :: | (۱۰۰۰) ټوکه |
| کمپوز/ ډیزاین | :: | لمر کمپوز کور کوټه |
| کمپوزوونکی | :: | بارکوال میاخېل |
| چاپځای | :: | شرکت پرنټنګ پریس، لاهور |
| بیه | :: | ۵۰ روپۍ |

د پلورلو ځای: 116 مېکلوډ روډ، لاهور، ټلیفون شمېره: 7357214

# ډالۍ

د اقبال د فکري تشکيل بنسټ ايښوونکو

مولانا جلال الدين بلخي رومي رحمة الله عليه

حکيم سنايي غزنوي رحمة الله عليه

سيد جمال الدين افغاني رحمة الله عليه

او

لوی خوشال خان خټک رحمة الله عليه ته

خوره وره دښته ده يوه سپينه براق کوتره په هوا را الوتې ده کله خو دومره را کښته شي ته به وا اوس د ځمکې بخت را بيداره شو او کله خو دومره پورته شي لکه ستوري چې په آسمان پورې و موښلي. هلته ببخي ډېرو خلګو لاسونه ور غځول چې دا کوتره ونيسي. ټوله د لېونتوب تر حده په دغه هڅه وه خو د چا په لاس نه ورتله يو څو وخت تېر شو چې اچانک يې د کښته په خوا ټوپ را وواهه او زما په لمن کې را ايله شوه. له آسمانه تر ځمکې يو د بوډۍ ټال (سره و زرغونه) جوړه شوه.

شيخ نورمحمد دغه خوب وليدی را ويښ شو، زړه يې له دغه يقينه را ډک شو چې خدای به يو زوی ورکوي، چې د اسلام په سپېڅلي دين کې به د لوی نامه څښتن وي. کرهٔ د خدای وه چې په ۳ ذيقعده ۱۲۹۴هـ ق چې د عيسوي سنې د نومبر نهمه ۱۸۷۷ع جوړېږي د جمعې په ورځ چې د سهار د آذانو ازانګې وې د شيخ نورمحمد د درويشانه کور په يوه خونه کې دغه غيبي زېری مجسم را ښکاره شو. د دغه ماشوم ږغ په خوره وره فضا کې د اذانو تر ازانګو دبانديې نه محسوسېدی شيخ نورمحمد خبر شو، راغلی د آسمان په لوري دغه پرواز يې وپېژاندی او د محمداقبال نوم يې پر کښېښوو.

شيخ نورمحمد د کشمير د سپرو برهمنو له توکمه وو. د غازي اورنګ زېب عالمګير په وختو کې د ده يوه نيکه اسلام راوړی وو. د دوی په هر پښت کې به يو نه يو کس ارومرو

داسې وو چې تش د زړه په خوله به يې کوله. دی هم يو دغه د زړه د څښتنانو څخه وو، مشرانو يې کشمير پرېښووی په سيالکوټ کې يې واړول. د ده پلار شيخ محمدرفيق د کهتيکان په محله کې مېنه جوړه کړه. د کشميري تودو څادرونو (پټووانو) او توسانو د خرڅلاو کار يې کاوه. داسې ښکاري چې شيخ نورمحمد او د ده کشر ورور شيخ غلام محمد دالته و زېږېده، کوشنی لوی شو، د ودو خاوندان شو. وروسته شيخ محمدرفيق بازار چوړيګران ته راغلی چې اوس يې اقبال بازار بولي. يو کوشنی سرای يې رانيوی، تر مرګه دالته اوسېدی. د ده د مرګ پس شيخ نورمحمد و داغه سرای ته څرمه يو بل دومنزله سرای او دوه دکانونه رانيول، سرای يې په له کې ګډه کړ. اقبال په دغه کور کې و زېږېدی. د لوړو لوړو بامونو کوشنی کوشنی خونې (کمرې) د لمرخاته خواته خلاصېدونکي روښندانونه، د خاورو غولی (صحن) او داسې پر مړه پورته مځکه باندې د ژوند تېرولو عمل انساني او فطري وي. په دغه ډول کورنو کې په جوړښت کې د تړون يو دومره زورور اثر موجود وي چې دغه هيڅ کله نه زړوي. مېنه او اوسېدونکي يې مدام سره تړلي وي. يو د بل سره لوېږي، د مينې هره لمحه يوه نوې تجربه وي. دغه ډول په سړي کې بېلابېلې تجربې او احساسات غزونې کوي او يو د بله سره يې د نغښتلو توان پيدا شي. دغه ډول د ژوندانه تاداو (بنا) کېښېښوول شي. په کوم کې چې د شاوخوا کاينات د انسان په

زړه کې ننوتل پیل کړي، جهان کتنه ځان کتنه جوړه شي.

اقبال په همداسې یوه کـور کـې را لـوی شـو، چـې د نـن صبا د کورونـو رنګـه د سـیمټو (کنکریټـو) خـری نـه وه. بلکـه د خـړو خـاورو څخـه را پورتـه کېـدونکی ورم پـه کـوم کـې چـې د یـوه خـدا آبـاد بـاطن د غزېـدونکي کیفیـت اثـر هـم ګـډ و. زمـوږ د زمانې د بې معنا اسـانتیاوو څخـه پـاک د دغـه کـور پـه غـیر مصنوعي چاپېریـال کـې اقبـال سـترګې رونـې (پرانیسـتلې) کـړې. پـه دغـه کـور کـې د لـوړو بـامونو او کـږو او تېـرو بېـرو خښتـو څخـه جـوړ فرش چې په مـنځ کـې یـې د نـه شـلېدونکې تیـنګې او ژورې پـرتې فضـا کـې اقبـال خبـرې زده کـړې، پـل یـې واخیسـت. پـه داسـې حـال کـې چـې د پـلار پـه رغ کـې یـې د زېـرمې ازانګـې وې او د مـور پـه غېـږ کـې د مینـې تودښـت وو. د قنـدیل (څـراغ) و رڼـا تـه یـې لوسـت پیـل کـړ چـې د شـیانو پـر بـاطن بانـدې څرګېـږي، بـاطن یـې سـپړي، لاکـن ضـروري او لازمـي ابهـام یـې پـر ځـای ساتي. د چـراغ پـه رڼـا کـې د لوسـت کـوونکي ډېـر لـیرې کتـونکي او معنا پېژندونکي وي.

شـیخ نورمحمـد دینـداره سـړی و. د زوی دپـاره یـې دینـي زدکړې کـافي بللـې، د سـیالکوټ د ځـایي ملایـانو سره یـې ډېـرې ښـې اړیکـې وې. اقبـال چـې د بسـم الله ویلـو تـر عمـره راورسـېدی. نـو یـې مولانـا غـلام حسـن تـه ور واسـتی. مولانـا ابـو عبـدالله غـلام حسـن د شـواله محلـې پـه مسـجد کـې درس ورکـاوه. شـیخ نـور محمـد بـه هلتـه تـګ راتـګ کـاوه، دالتـه د اقبـال د

زدکړې پیل وشو. د رواج سره سم یې قرآن شریف په زدکړه پیل وکړ. دا لړۍ داسې تر یوه کاله دوام درلودی، چې یوه ورځ د ښار نامتو عالم مولانا سید میر حسن دالته راغلی، یو ماشوم یې پر سبقه ناست ولیدی چې د بنې څخه یې د عظمت د لویۍ او نېکمرغۍ ښایست را ځځېدی. ده پوښتنه وکړه چې دا ماشوم څوک دی؟ چې ور وښوول شو نو دی د هغه ځایه را ولاړ شو د شیخ نور محمد په خوا را رهي شو. دوی دواړه یو د بل نژدې پېژندونکي وه. مولانا په ډېر ټینګار سره دی دې ته وګماری چې خپل زوی دې یوائې تر مدرسې محدوده نه ساتي. د ده دپاره عصري زدکړې هم ډېرې ضروري دي. ده د دغه خواهش اظهار وکړ چې اقبال دې د ده په تربیت کې ور وسپارل شي. یو څو ورځې خو شیخ نور محمد خبره شا و مخ ته کوله، لاکن چې د هغه بلې خوا څخه اصرار زیاتېدی نو اقبال یې و میرحسن ته ور وسپاری.

د ده مکتب د شیخ نورمحمد کور ته څرمه د میر حسام الدین په کوڅه کې وو. دلته اقبال د اردو، فارسي او عربي لوست پیل کړ. درې کاله تېر شوه. په دغه وختو کې سید میرحسن په سکاچ مشن اسکول کې هم ښوونه پیل کړه. اقبال هم دالته داخل شو، لاکن پخواني معمولات یې پر ځای پاته وه. د سکول څخه چې به راغلی نو د استاد خدمت ته به حاضر شو. میر حسن د هغه عظیمو استادانو یادګار وو، د چا

دپاره چې د ژوندانه فقط يو هدف وي ويل او ورته ويل. لاکن دغه ويل او ورته ويل تش د کتابونو د ورته ويلو تر حده نه وو، په ښه زمانه کې استاد مرشد هم وي. مير حسن هم دغه کول. له واړه اسلامي علومو څخه خبر وو. پر نوو علومو يې هم ژور نظر درلودی، د دې په څېره يې پر ادبياتو، معقولاتو، ژبو او رياضياتو هم ښه مهارت درلودی. و زدکوونکو ته د سبق ويلو پر وخت به يې ادبي ښه غوره کړه. په دې چې علم تش په حافظه کې د خوندي کولو نوم نه دی، بلکه چې هغه دا حساس طرز غوره کړي. د عربي، اُردو او پنجابي په زرو شعرونو يې په ياد ايزده وه. که به يې يو شعر شانی نو په شلهاوو ورته شعرونه به يې وويل.

د مولانا تدريسي مصروفيتونه ډېر زيات وه، لاکن د خپلې مطالعې معمول يې کله هم نه قضا کاوه. د قرآن شريف حافظ هم وو او عاشق هم. شاګردانو به شاه صاحب باله. پر انساني وراشه او درشه ورشه ټينګ ولاړ وو. ښخي زيات شفيق، ساده، قانع، درونـد، فقير طبيعته او د ښه خلقيت څښتن وو، ورځنی معمول يې دا وو چې د سحار د لمانځه پس به اديرې ته تلی. د قريبانو او اشنايانو پر قبرو به يې دعاوې کولې، چې خلاص به شو نو شاګردان به په انتظار ورته ناست وو. د واپسی لار به يې په سبق اوربدلو او سبق ورکولو کې را پرې کړه، دغه لړی به يې تر کوره دوام درلودی. تر څو چې د سکول د تلو وخت به را نژدې شو، ژر- ژر به يې ناری (ناشته) وکړ او سکول ته به

رهـي شـو. شـاګردان بـه پـر خنـګ ورسـره روان وه. ټوله ورځ بـه يې په سـکول کـې سبق ورتـه وايـه. مـاځيګر بـه د شـاګردانو سـره کور ته راغلی، بيا به تر شپې پورې درس دوام درلودی.

اقبـال پـر ده ډېـر ګـران وو، پـر اقبـال هـم پخپلـه اسـتاد ډېـر ګـران وو. د اقبـال د شخصـيت پـه مجمـوعي تشـکيل کـې چـې کـوم لومـړي تــوکي (عناصــر) شــامل وه، پــه دغــو کــې زيــاتره د شــاه صـاحب د صـحبت او د تعلـيم اغېـزه وه. سـيد ميرحسـن د سرسـيد لـوی خوښـوونکی وو، د عليګړهـ تحريـک يـې د مسـلمانانو دپـاره ګټـور باله. د ده د اثـر لـه کبلـه د اقبـال پـه زړه کـې هـم د سرسـيد سـره مينه پيدا شـوه، چـې د ځينـو اختلافـاتو بـاوجود دغـه مينـه د ده د ژوند تر پايه له ده سره مله وه.

د مسلمانانو د خـير غوښـتلـو جذبـه خـو د اقبـال کورنـۍ برخـه وه، لاکــن د ميرحســن دغــه روزنــې (تربيــت) د اقبــال و دغــه جــذبې تــه علمــي او عملــي خــرک ورکــړ. اقبـال پـه پوهېـدلو او ځيرکتـوب کـې تـر د خپلـو همځولـو ماشـومانو ډېـر وړانـدي وو. د کوشــنيوالي څخــه لا پــه ده کــې هغــه ژوره توجــه او اســتغراق موجود وو کوم چـې پـه لويـو خلکـو کـې تـر سـترګو کېـږي، لاکـن دی د کتابونو چنجـی نـه وو. کـه پـه کتـابونو څـوک اختـه شـي نـو هغه څوک خو بيا فقـط يـو دمـاغي وجـود جـوړ شـي. د ژوندانـه او د ده تـر مـنځ ډېـره فاصـله پيـدا شـي، د ژوندانـه حقيقتونـه او تجربې تش په دماغ کـې منجمـدې پاتـه شـي. د تـودې ويـنې برخـه نـه ګرځـي. دی د لوبـو هـم شـوقي وو. دکوشـنيانو رنګـه يـې بـازی

هم کولې. ډېر حاضرځوابه هم وو. شیخ نورمحمد دا هر څه لیدل لاکن دی یې منع کاوی نه.

هغه پوهېدی چې په دغه ډول شیانو سره خپلوي او بې تکلفي پیدا کېږي چې ښځي زیاته ضروري او ګټوره ده. غرض د اقبال کوشنیوالی په یوه فطري کشادګي او بې ساختګي سره را تېر شو، قدرت و ده ته یو صوفي پلار او یو عالم استاد ور پیرزو کړ، د کومو څخه چې د ده زړه او عقل سره مله سوه. د دواړو هدف او لټون یو شو، دا چې په اقبال کې حس او د فکر ناولده یووالی تر سترګو کېږي د دې شاته دغه شیان موجود دي. د پلار د قلبي فیضان له کبله چې یې کوم څه اجمالاً محسوس کړه هغه یې د استاد په تعلیم سره تفصیلاً معلوم کړه.

د شپاړسو کلونو په سن کې اقبال د لسم ټولګي څخه په لومړۍ درجه کې بریالی شو، مډال او وظیفه یې ورکړه. په سکاچ مشین سکول کې د دولسمه پورې کلاسونه هم پیل شوي وو ځکه نو اقبال د ایف اې (دوولسم) دپاره بل کوم ځای ته نه ولاړی، دالته پاته شو. دا هغه زمانه وه چې دده د شاعرۍ باقاعده پیل کېږي، هسې خو د شعر او شاعرۍ سره دده تړون د کوشنیوالي څخه وو.کله کله به یې پخپله هم یو بیت میت پر له برابر کړ لاکن په دغه باب سنجیده نه وو، نه یې چاته اورول او نه یې خوندي کول، لیکل به یې او څیرل یې، غورځول یې، لاکن شعر ویل اوس و ده ته تش ساتېری نه

وو پاتې بلکه د روح تقاضا یې جوړه شوې وه. په دغه وخت کې په بشپړ برصغیر کې د "داغ" د نامه انګازې وې. په خصوص سره په اردو ژبه کې د ده د معجزانه غښتلتوب ستاینه هر چا کړې وه. اقبال دغه غښتلتوب غوښتی. و داغ ته یې د شاګردۍ لیک ور واستاوی چې هغه و مانی لاکن د اصلاح اخیستلو دغه سلسلې ډېر دوام ونه موندی، داغ بیخي لوی استاد وو. د لوی هندوستان په اردو شاعرۍ کې چې څومره خبرې دي په واړو کې د داغ د قلم سکښت او جوړښت ورانديې وو. لاکن د اقبال د شعر رنګ د ده دپاره هم نوی وو. که څه هم تر دغه وخته د اقبال د شعر ځانګړی ارزښت لا په ډاګه شوی نه وو لاکن داغ د خپل بې مثاله ځراکت له کبله وپوهېدی چې داغه غمی نور تراشېده نه غواړي. په دې یې ځان ځنې خلاص کړی چې د اصلاح ګنجایش د نه کېدو برابر دی. لاکن اقبال یې په دغه لږ غوندې شاګردۍ هم مدام فخر کاوه. دغه حال د داغ هم وو چې د ده د شاګردوالی یې د ځان دپاره ویاړ باله.

د اقبال واده هم په دغه زمانه کې وشو. په شپږمه د مئ ۱۸۹۳ع چې د لسم ټولګي د بریالیتوب نتیجه ورته را و رسېده اقبال سېراتړلی ناست وو (د واده په ورځ چې زوم زرین نقاب اغوستی وي) ورا له سیالکوټه ګجرات ته رهي کېده.

په ۱۸۹۵ع کې اقبال دوولسیم ووایه او د نورو زدکړو دپاره لاهور ته راغلی وو، دالته یې په ګورنمنټ کالج لاهور کې په

ژورلسم کې داخله واخیسته او په هاسټل (لیلیه) کې اوسېدی، د ځان دپاره یې د انګلیسي فلسفه او عربي مضمونونه وټاکل. انګلیسي او فلسفه یې په ګورنمنټ کالج کې لوستل او د عربي ویلو دپاره یې د اورینټل کالج په درسونو کې برخه اخیسته چېرې چې د مولانا فیض الحسن سهارنپوري په څېر لوړ- لوړ استادان موجود وو. په دغه وختو کې اورینټل کالج د داغه ګورنمنټ کالج لاهور په یوه برخه کې موجود وو او د دغو دواړو کالجونو په منځ کې د ځینو مضمونونو په لړ کې د ګډو اړیکو لړۍ دوام درلودی.

په ۱۸۹۸ع کې اقبال په ژورلسم کې بریالی شو او په ایم اې فلسفه کې یې داخله واخیسته. دلته یې د پروفیسر ټي ډبلیو آرنلډ سره اړیکي پیدا شوې، چا چې وروسته د اقبال د علمي او فکري ژوندانه حتمي لاري وټاکلې.

په مارچ ۱۸۹۹ع کې یې د ایم اې فلسفې امتحان ورکړ او په درست پنجاب کې لومړی راغلی. په دغه وختو کې یې د شعر لړۍ هم دوام درلودی، لاکن مشاعرو ته لا نه تلی.

په نومبر ۱۸۹۹ع کې یو شپه څو هم طبعه هم صنفیانو دی د حکیم امین الدین کور ته و یوې مشاعرې ته زورکي بوتلی. لوی لوی منلي استادان شاعران د یو شمېر شاګردانو سره دلته راغلي وه. د اورېدونکو هم ښه ډېر تعداد راغلی وو. اقبال ولي چې ببخي په لومړي پلا دالته راغلی وو، ځکه نو د ده نوم په نوچکو کې واخیستل شو. ده غزل پیل کړه چې دا

بیت ته را ورسېدی :

موتی سمجھ کے شانِ کریمی نے چن لیے
قطرے جو تھے مرے عرقِ انفعال کے

مرزا ارشد ګورګاني را وغورځېدی بې اختیاره يې شابوښی ورکول پیل کړ. له همدغه ځایه د اقبال په حیثیت د ښه شاعر پیل وسو. په مشاعرو کې په پرله پسې ډول راغوښتل پیل شو. په داغه زمانه کې يې د انجمن حمایت اسلام سره تړون پیدا شو. چې تر پایه جاري وو. د دغه انجمن په ملي او اولسي غونډو کې به يې خپل کلام اوراوه او خلګ به واړه ورته يو غوږ شوه، د اقبال مقبولیت د انجمن ببخې ډېر کارونه اسانه کړه. د پنجاب په مسلمانانو کې خو پر اولسي سطح باندې د دیني وحدت شعور زېږېدل پیل شو، په کوم کې چې د اقبال شاعري لومړنی کردار ادا کړ.

د ایم اې (شپاړسم) د بریالیتوب پس په ۱۳ مئ ۱۸۹۹ع په اورینټل کالج کې د مېکلوډ عربک رېډر په حیثیت د اقبال ټاکنه وشوه. په دغه کال آرنلډ په عارضي توګه په کالج کې دویم پرنسیپل وټاکل شو. اقبال داسې د څلورو کالو پورې په اورینټل کالج کې وو. په منځ کې يې شپږ میاشتې رخصت واخیست او په ګورنمنټ کالج کې يې انګلیسي و شاګردانو ته ویله. د لوړو زدکړو دپاره کاناډا یا امریکا ته يې تلل غوښتل، لاکن د آرنلډ په ویلو يې د دغه مقصد دپاره د انګلستان او المان انتخاب وکړ. په ۱۹۰۴ع کې چې کله آرنلډ بیرته

انګلستان ته ولاړی نو پر اقبال د ده بېلتون ډېر زور وکړ. زړه به يې ورته ويل چي ور والوزه انګلستان ته ورسه.

په اورينټل کالج کې د خپل څلورکلن تدريسي خدمت پر وخت اقبال د اسټبس د "ارلي پلائي جانټس" او واکر "د پولټيکل اکانومي" په اردو ژبه ژباړه او لنډيز وکړ. د شيخ عبدالکريم الجيلي د توحيد مطلق پر نظريه يې په انګليسي کې يوه مقاله وکښه او د "علم الاقتصاد" په نامه يې په اردو ژبه يو کوشنی کتاب وکښی چي په ۱۹۰۴ع کې خپور شو. په اردو کې پر دغه موضوع باندې دا کتاب د اولنيو کتابونو څخه دی.

په اورينټل کالج کې يې په حيثيت د مېکلوډ عربک ريډر د وظيفې وخت پای ته ورسېدی نو په جون ۱۹۰۳ع کې د اسټنټ پروفيسر په حيث اقبال په ګورنمنټ کالج کې مقرر شو. لومړی خو ده انګليسي ورته ويله بيا د فلسفې پر ويلو وګمارل شو. د تدريس دغه لړۍ د ۱۹۰۵ع د دوبي تر رخصتيو پورې دوام درلودی. تر څو د اروپا د تلو دپاره يې د درو کلونو رخصتي واخيسته او په لومړي ستمبر ۱۹۰۵ع د لاهور څخه رهي شو.

په دغو وختو کې د اقبال په شاعرۍ کې څه داسې توکي را ښکاره شوه چي د اردو شعر په روايت کې يو د قدر وړ زياتونه څرګندېده. مثلاً فطرت نګاري که څه هم پخپله د اقبال په زمانه کې د فطرت په منظرونو د شاعرۍ کولو يو تحريک چلېدلی وو لاکن د هغو شاعرانو وس تش د فطرت د بصري اړخونو پورې وو، خو د اقبال په لومړني کلام کې هم

دا په ډاګه څرګندېږي، چې فطرت تش د سترګو تر کتو پورې را لنډ نه دی بلکه فطرت د زړه او عقل موضوع هم ده. د دې په چپه د ده د دغه وخت په غزلو او نظمونو کې هم د سياسي، فلسفيانه او د ګډ هندوستان د رواجي تصوف د تصوراتو د اظهار تاداو ايښوول شوی وو. پر دې سربېره يې د ماشومانو دپاره نظمونه هم وليکل او د غربي شاعرۍ يو څو منظومې ژباړې يې هم وکړې.

اقبال د ډيلي او بمبۍ پر لاره په ۲۵ دسمبر ۱۹۰۵ع کېمبرج ته را ورسېدی. د آرنلډ له کبله سمدلاسه په ټرنټي کالج کې داخل شو، ولې چې دی په کالج کې د ريسرچ اسکالر په حيث ټاکل شوی وو ځکه د ده د عمومي لوستونکو په ډول په ليليه (هاسټل) کې پر اوسېدلو هيڅ پابندي نه وه، نو دی په ۱۷ پرتګال پيلس کې ډېره شو. د بېرسټرۍ دپاره په ٦ نوامبر په "لنکنزران" کې داخل شو.

سر عبدالقادر هم دالته وو. په دغه زمانه کې د کېمبرج په استادانو کې وايټ هيډ، ميک ټيګرټ وارډ، براؤن او د نکلسن په ډول د خپل وخت نامتو کسان شامل وه. د ميک ټګريټ او نکلسن سره د اقبال ډېرې نږدې اړيکې وې. د نکلسن سره خو يې ټينګه اشنايي، انډيوالي او بې تکلفي جوړه شوه، خو د ميک ټيګرټ سره يې اړيکې د استاد او شاګرد تر حده وې. سوب يې د ميک ټيګرټ علمي جلال او د ده عمر هم وو، ځکه چې هغه تر اقبال بېخي ډېر مشر وو، خو اقبال د نکلسن

همځولي وو.

مېک ټېګرټ په ټرنټي کالج کې د کانټ او هيګل فلسفه ورته ويله او پخپله هم د انګلستان په لويو فلسفيانو کې وو. براؤن او نکلسن د عربي او فارسي ژبو تکړه استادان وه. پر مخ خو نکلسن د اقبال د فارسي مثنوي "اسرار خودی" په انګليسي ژبه هم و ژباړله، چي که څه هم د اقبال خو په بشپړه توګه خوښه نه شوه لاکن د ده له دغي ژباړي له کبله د انګليسي ويونکو د اروپا شعري او فکري څانګو د اقبال د نامه او کاره سره څه نا څه بلدتيا ارومرو پيدا کړه. د انګلستان څخه بيرته د راتلو پس هم د اقبال د نکلسن او مېک ټېګريټ سره خط و کتابت دوام درلودی.

آرنلډ د لندن په پوهنتون کې عربي ورته ويله. د ده سره د کتلو دپاره به اقبال په باقاعده ډول د کېمبرج څخه لندن ته ورتلی، په هره معامله کې به يې د ده څخه صلاح اخيسته او بيا به يې ګام اخيستی. هم د ده په لارښوونه يې په ميونخ پوهنتون کې د پي ايچ ډي (دکتورا) دپاره رجسټرېشن وکړ. په کېمبرج کې چي په څورلسم (بي اې) کې بريالی شو، په جولای ۱۹۰۷ع کې هائيډل برګ ته ولاړی. تر څو الماني ژبه زده

کړي، چي د ميونخ په پوهنتون کې د پي ايچ ډي (دکتورا) د تحقيقي مقالې دپاره د زباني امتحان تياري وکړي، چي هم په دغه الماني ژبه کېدی. دالته يې څلور مياشتي تېري کړې.

(The Development Of Metaphysics In Persia) *(په ایران کې د مابعدالطبیعات ارتقا)* تر سرخط لاندې یې خپله تحقیقي مقاله د دمخه څخه لا جمع کړې وه، خو د یو ژباني امتحان مرحله لا پاتې وه. تر دغه هم په میړانه را تېر شو. په ۴ نومبر ۱۹۰۷ع میونخ پوهنتون و اقبال ته د دکتورا سند ورکړ. په ۱۹۰۸ع کې دغه مقاله لومړی ځل د لندن څخه چاپ شوه. ترون یې د آرنلډ په نوم شوی وو.

د دکتورا پس اقبال د المان څخه بیرته لندن ته راغلی او د بیرسټرۍ د وروستي کال د امتحان په تیارۍ بوخت شو. څو میاشتې پس واړه امتحانونه بشپړ شوه، په جولای ۱۹۰۸ع کې یې نتیجه راغله، اقبال بریالی شو. د دې پس په انګلستان کې نور پاتې نه شو، بیرته خپل وطن ته را ستون شو.

په لندن کې د خپلې ایسارتیا په وخت کې اقبال پر بېلابېلو موضوعاتو د لیکچرونو یوه لړۍ پیل کړې وه. مثلاً اسلامي تصوف، پر اروپایي تهذیب باندې د مسلمانانو اثر، اسلامي جمهوریت، اسلام او انساني عقل وغیره. خو متاسفانه په دغو لیکچرونو کې د یوه هم ریکارډ نه تر لاسه کیږي.

یو وار آرنلډ په اوږده رخصتي ولاړی، نو اقبال د ده پر ځای د لندن په پوهنتون کې د عربي پروفیسر وټاکل شو.

په مئ ۱۹۰۸ع کې چې په لندن کې د آل انډیا مسلم لیګ د برټش کمېټۍ پرانیسته وشوه، نو په یوه غونډه کې یې سید امیرعلي د کومېټۍ صدر چوڼ شو او اقبال یې د مجلس

عاملې غړی وټاکل شو.

د انګلستان د قیام په شپو کې یې یو وار دا تر زړه وکښه چې شاعري به پرېږدي، خو د آرنلډ او خپل نږدې انډیوال شیخ عبدالقادر په صلاح یې دغه اراده بیرته پرېښووه، په داغه زمانه کې دی په فارسي ژبه شعر ویلو ته ډېر په سنجیدګۍ متوجه شو.

په اروپا کې د اوسېدو پر وخت د اقبال په خیالاتو کې دوه بنیادي بدلونونه پیل شوه. اقبال د وطن قومیت او وحدت الوجود و لوري ته ډېر میلان درلودی، خو اوس دغه میلان په ګرېز کې بدل شو. په خصوص سره د وطني قومیت د نظریې خو تر دغه حده مخالف شو چې دا یې د ملت اسلامیه دپاره د تباهۍ باعث ګاڼي.

په اروپا کې د غربي تهذیب او ژواک او د هغه په روح کې د کارفرما بېلابېلو تصوراتو د نږدې څخه د لیدلو کتلو موقع په لاس ورغله. د غرب څخه مرعوبه خو هغه کله هم نه شو، نه د اروپا د تلو دمخه او نه د هغه پس، بلکه د غرب د فکري، معاشي، سیاسي او د نفسیاتي غلبې څخه د سترګو د پټولو پر ځای ده په عالمي نړیوال تناظر کې د امت مسلمه د تېر شوي برم د بیرته لاس ته راوړلو په لویه او پراخه دایره کې فکر کول پیل کړ. تر دې ځایه چې پر ده باندې د غربي فکر او تهذیب بې تاله سپک اثر هم څرګند شو، د کېمبرج په شپو کې یې یوه غزل وکښه، په کومه کې چې دغه واړې خبرې په الهامي

• آهنګ کې وشوي:

سنا دیا گوش منتظر کو حجاز کی خامشی نے آخر
جو عہد صحرائیوں سے باندھا گیا تھا پھر استوار ہوگا

نکل کے صحرا سے جس نے روما کی سلطنت کو اُلٹ دیا تھا
سنا ہے یہ قدسیوں سے میں نے وہ شیر پھر ہوشیار ہوگا

دیار مغرب کے رہنے والو خدا کی بستی دکاں نہیں ہے
کھرا جسے تم سمجھ رہے ہو وہ اب زر کم عیار ہوگا

تمہاری تہذیب اپنے خنجر سے آپ ہی خودکشی کرے گی
جو شاخ نازک پہ آشیانہ بنے گا ناپایدار ہوگا

خدا کے عاشق تو ہیں ہزاروں بنوں میں پھرتے ہیں مارے مارے
میں اس کا بندہ بنوں گا جس کو خدا کے بندوں سے پیار ہوگا

میں ظلمتِ شب میں لے کے نکلوں گا اپنے درماندہ کارواں کو
شرر افشاں ہوگی آہ میری نفس مرا شعلہ بار ہوگا

ژباړه :- د سید راحت زاخلي.

د حجاز خاموشي اووې آخر غوږ د منتظر کې
صحرايانو سره شوي لوظ به بيا را استوار وي
سلطنت يې د روما چې په بل مخ وو اړولې
له قدسيانو نه زه اورم هغه شېر به بيا بيدار وي
واورئ اې د مغرب خلکو د خدای ملك خو دکان نه دی
کره زر چې ورته وايې دا به زر کوټ او بنګار وي

دا تهذیب ستاسو پخپله به پخپل خنجر ځان وژني
په کچه ځا نګې د جالي عمر خود ناپایدار وي
عاشقان خو د خدای ډېر دي چي ځنګل په ځنګل ګرځي
زه تابع یم د هغه چي د بندیانو مینه دار وي
په دې توره شپه کې خپل کاروان به مات ګوډ بوځم
اسویلي به مي بخري نولي ساه به شعله بار وي

د قومیت پرستۍ په پښنه اوس د اقبال ښه پوره سر خلاص شوی وو چي د دغه ډول هر یو تحریک د مسلمانانو د ملي تشخص او دیني وجود دپاره بېخي ډېر تاواني دی. دی په دې هم ډېر ښه پوه شوی وو چي که د قومیت پرستۍ دغه خپه د اسلامي هېوادونو یا د نړۍ تر نورو سیمو د مصروفِ عمل مسلمانانو پورې ورسېده نو د اشتراکِ ایمان بنیادونه به را و نړېږي او مسلمان به د مسلمان غاړي ور پرې کړي. د همدغه زمانې په یوه بله غزل کې هم په دغه دوو بیتو کې دغه خبره شوې ده :

نرالا سارے جہاں سے اس کو عرب کے معمار نے بنایا
بنا ہمارے حصارِ ملت کی اتحادِ وطن نہیں ہے
کہاں کا آنا کہاں کا جانا فریب ہے امتیازِ عقبیٰ
نمود ہر شے میں ہے ہماری کہیں ہمارا وطن نہیں ہے

ژباړه :- د سید راحت زاخېلي.

ټول جهان نه په بل شان دی عربي معمار جوړ کړی
د قومي حصار بنیاد مو قایم نه دی په وطن

چرته تلل چرته راتلل دي د عقبٰی بېلتون فرېب دی
پــه هر ځیز کې مونږ ښکارېږو چرتــه نــه شتــه مــو وطــن

تــر ۱۹۰۹ع پــورې اقبــال پــه برصـغير کــې د ملکـي قوميـت پـر بنيـاد بانــدې د هنــدوانو او مسـلمانانو د يــووالي د خيالــه څخــه پــه بشپړه توګه لاس واخيست.

په اروپا کې د قيام پــه زمانــه کــې د اقبــال پــه زړه او دمــاغ کــې دغه بدلون تش يــو خيــالي بــدلون نــه وو بلکــه پــه دغــه بــدلون کــې يو تقــديري شــان پــټ وو. کــوم څــوک چــي تــش د علمــي او کتــابي اړخه څخــه د ليــدلو عــادت لــري هغــه د اقبــال پــه روح کــې د پيــدا شوي د دغــه انقــلاب د معنويــت پــورې د رســېدلو تــوان نــه لــري. د کتلو خبـره دا نــه ده چــي پــه برصـغير کــې د يــو جــلا مسـلم قوميـت تصور لومړی د چــا پــه مغــزو کــې ورغلــی، کتــل دا پــه کــار دي چــي د دغــه تصــور عملــي اطــلاق چــا وړانــدې کــړ. ښکــاره خبــره ده د تحريــک پاکســتان پــه سمدلاســه پــس منظــر کــې دوې رايــې نــه شــي کېدلای. نــو دا وو چــي د متحــده هندوســتان پــه مســلمانانو کــې د خپلواکــی ځــانګړی، جداګانــه تشــخص، شــعور او د دغــه هــر څــه د تــر لاســـه راوړلـــو د شـــديدې هڅـــې د را پـــارولو توفيــق څښـتن تعالیٰ جَلَّ جَلَالُهُ پر اقبال پــيرزو کــړ. بيــا قايــداعظم تشريف راوړ او بيــا نــور، خو اصل کار خدای تعالیٰ جَلَّ جَلَالُهُ د اقبال په لاس تر پايه و رساوه.

په همدغــه وخــت کــې د فارســي پــه لــور د طبيعــت ور کږېــدل هم لويــه معنــاداره خبــره ده. دا ښکــاره خبــره ده چــي پــه فارســي ژبــه کــې د اردو پــه پرتلــه تخيــل، عقــل او د احساســاتو د ځــايولو

تــوان ښخــي زيــات دی او د اقبــال پــه شــاعري بلکــه د ده پــه شخصــيت کــې دغــه درې تــوکي پــه مثــالي توګــه يــو ځــايوالی درلــودی، ځکــه نــو د فارســي پــر ژبــه او ادبيــاتو بانــدې د ده د قــدرت لرلــو دا لازمــي غوښتنــه وه چــي دی دي فارســي ژبــه د خپل اظهار يــوه لويــه ذريعــه جــوړه کــړي. لاکــن دغــه پښــه تــش د اقبال پــه شــاعرانه شخصــيت پــورې را لنــډه نــه وه، د دې تــر شــا د مسـلمانانو دپـاره د ده هغـه بـې قـراري پټـه وه د کـوم نتيجـه چـي لومـړی د پاکسـتان د جوړېـدلو، بيـا وروسـته د ايـران د انقـلاب او د افغانسـتان د جهـاد پـه ښـه کـې را څرګنـده شـوه. نـن مـوږ پـه پـوره ډاډ او يقـين سـره دا ويـلای شـو چـي د علامـه فارسـي شــاعري لــږ تــر لــږه د آســيا تــر حــده د مســلمانانو د تــاريخي او تهذيبي شـعور او د هغـه د ملـي احسـاس د کـره وړه پـه ټاکنـه کـې د ښخي لومړي توکي درجه لري.

لنـډه دا چـي پـه دغـه وخـت کـې د زدکـړې سـره سـره د اقبــال شــاعري هــم د خپــل کمــال تــر ټاکــه تــر را رســېدلو معلوميږي.

پـه جـولای ۱۹۰۸ع کـې و هېـواد تـه را سـتون شـو. د بمبـی پــر لار پــه ۲۵ جــولای ۱۹۰۸ع د شــپې ډيلــي تــه را ورســېدی. دوسـتان او خپلـوان هرکلـي تـه ورتـه راغلـي وه. پـه دا بلـه ورځ د خو ملګرو سره د حضـرت نظـام الـدين اوليـا محبـوب الهـی زيـارت ته ورغلی. ورځ يـې دالتـه تېـره کـړه چـي ماښـام شـو د غالـب قبـر ته ورغلی او دعا يې ورته وکړه.

په ۲۷ جولای ۱۹۰۸ع غرمه په اورګاډي کې لاهور ته را ورسېدی. پر تمځای (سټېشن) یې ډېر تود هرکلی وشو. ملګرو د ده په درناوي کې د یوې لویې ناستې اهتمام کړی وو، په دغه تقریب کې یې ګډون وکړ او په دغه ورځ ماځیګر په اورګاډي کې سیالکوټ ته رهي شو.

د مینانو یو ډېر لوی تعداد پر پلېټ فارم باندې ورته سترګې په لار وو. پلار، مشر ورور او نور انډیوالان او خپلوان هم ورته راغلي وه، په غاړه یې هارونه او ګلونه ور وځړول، د سټېشن څخه دباندې را و ووت او د کور پر خوا را رهي شو، چېرې چې و ده ته تر واړو غوره هستۍ انتظار ایستی.

بلې هو د ده مور مبارکې.

په اګست ۱۹۰۸ع کې اقبال لاهور ته راغلی. یوه میاشت نیمه پس یې د پنجاب په چیف کورټ کې وکالت پیل کړ. په دغه دنده کې یې یو څو ورځې تېرې شوې وې چې په ایم اې او کالج علي ګړهـ کې د فلسفې او په ګورنمنټ کالج لاهور کې د تاریخ د پروفیسرۍ ست ورته وشو. لاکن اقبال د ځان دپاره د وکالت کار مناسب وبالی او د دغو دواړو ادارو څخه یې بخښنه وغوښته، خو وروسته یې د پنجاب حکومت په خواست او پرله پسې غوښتنه پر ۱۰ مئ ۱۹۱۰ع یې په ګورنمنټ کالج لاهور کې په عارضي توګه فلسفه ورته ویل پیل کړه، خو ورسره ورسره یې وکالت هم جاري وساتی. سوکه سوکه یې مصروفیات زیاتېدل پیل شوه، د یو شمېر ادارو او

انجومنونو سره يې ترون پيدا شو.

په ۱۸ مارچ ۱۹۱۰ع کې يې حيدرآباد دکن ته سفر وکړ. هلته د اقبال پخواني اشناى مولانا ګرامي د دمخه څخه لا موجود وو، په دغه دوره کې يې د سر اکبر حيدري او مهاراجه کشن پرشاد سره يې د اشنايي مراسم پيدا شوه. د مارچ په ۲۳مه د حيدرآباد څخه بيرته راغلى. د اورنګ زېب عالمګير د زيارت کولو دپاره پر لاري په اورنګ آباد کې کښته شو، دوې ورځې دالته ايسار شو. په ۲۸ مارچ ۱۹۱۰ع لاهور ته را ورسېدى او بيرته په خپلو معمولاتو بوخت شو. په ۱۹۱۰ع کې يې علي ګړه ته سفر وکړ او په ستريچي هال کې يې د The Muslim Community A Sociological Study تر سرخط لاندې يې يوه خطبه وړاندې کړه. وروسته دغه خطبه مولانا ظفرعلي خان د "ملت بيضا پر ايک عمراني نظر" په نامه په اردو و ژباړله او خوره يې کړه. دا خطبه د هند د مسلمانانو د راتلونکي په اړه خورا زيات ارزښت لري. معلمي او وکالت يو ځاى سره کول ډېر زيات ستونزمن کېدى، آخري په ۱۳ دسمبر ۱۹۱۰ع د ګورنمنټ کالج څخه استعفى ورکړه، خو په څه نه څه حيثيت يې د کالج سره اړيکي جاري وساتلې. يواځې د ګورنمنټ کالج سره نه بلکه د پنجاب او د برصغير د نورو پوهنتونونو سره د اقبال اړيکي پيدا شوې. د پنجاب، علي ګړه، اله آباد، ناګپور او ډيلي د پوهنتونونو ممتحن شو. د دې په چپه د بيت العلوم حيدرآباد دکن دپاره د تاريخ اسلام پرچې يې هم

جوړولې. کله کله به د زباني امتحان دپاره علي ګړهـ، اله آباد، ناګپور وغيره ته هم ولاړي، د ممتحن په حيثيت يې يو حتمي اصول تاکلی وو، پر هر څومره تېر اشنای باندې هم د سفارش دروازه بنده وه.

په ۲ مارچ ۱۹۱۰ع د پنجاب پوهنتون فيلو وټاکل شو. پر مخ بيا په بېلو بېلو وختونو کې د اورينټل او آرټس فيکلټي د سينټ او سنډيکيټ غړی هم پاته شو. په ۱۹۱۹ع کې د اورينټل فيکلټي ډين جوړ کړل شو. په ۱۹۲۳ع کې د پوهنتون د تعليمي کونسل غړيتوب ور ورسېدی. په داغه کال په پروفيسرشپ کمېټي کې هم واخيستل شو. د خپلو بې شماره مصروفيتونو له کبله يې د تعليمي کونسل څخه استعفٰی ورکړه. لاکن د پوهنتون وايس چانسلر سر جان مينارډ د ده استعفٰی ونه منله او د ده د خوا دومره خواست وشو چې اقبال مروتاً خپله استعفٰی بيرته واخيسته. په دغه وخت کې د پنجاب ټيکسټ بک کمېټي غړی هم وو. د لسم ټولګي د لوستونکو دپاره يې د فارسي کتاب "آئينه عجم" وکښی، چې په ۱۹۲۷ع کې د چاپه راو ووت. د دې دمخه هغه د پينځم، شپږم، اووم او اتم صنفونو دپاره د حکيم احمد شجاع په ملګرتيا د اردو کورس په نامه نصابي کتابونه مرتب کړي وه.

لنډه دا چې د پنجاب پوهنتون سره اقبال عملاً تر ۱۹۳۲ع پورې اړيکې درلودې. د شلمې سلۍ په لومړۍ لسيزه کې په پنجاب کې دوې سياسي ډلې موجودې وې لاکن هغه

دوارې ډلې د مسلمانانو د رښتيني تهذيبي، سياسي او معاشي مسايلو څخه بېګانه وې. په دغو کې د يوې ډلې واګې د سر محمدشفيع په لاس کې وې او هغه بله ډله په سر فضل حسين پسې وه. په دسمبر ۱۹۰۷ع کې آل انډيا مسلم ليګ په کراچۍ کې خپله يوه غونډه را وبلله، سر محمدشفيع او سر فضل حسين سره د خپلو پلويانو هم دالته راغله. دا پرېکړه وشوه چې په پنجاب کې دې ايالتي مسلم ليګ جوړ شي. پر دغه پرېکړه سمدستي عمل وشو. مياں شاه دين يې صدر وټاکل شو او سر محمدشفيع يې سيکرټري جنرل. خو سر فضل حسين عملاً بېل پاته شو. اقبال د ده واړه مشرانو سره دوستانه اړيکې درلودې، لاکن د عملي سياست څخه يې ځان ګوښه وساتی.

تر ۱۹۱۱ع پورې د متحده هندوستان زياتره مسلمانانو مشرانو د سر سيد په زېرمه د انګليسي حکومت سره د وفادارۍ چمونه کول، لاکن د ۱۹۱۱ع او ۱۹۱۲ع په منځ کې حالات يې و يوې خواته روان وه اچانک بدل شو، مسلمانان سياستمداران د بنګال د بېلتون په حق کې وه انګرېزانو هم دغه غوښته، لاکن هندوان د دغه منصوبې په کلکه مخالفان وه. دوی تشدد غوره کړ نو انګرېزي حکومت شاته ولاړی، د بنګال تقسيم يې پرېښووی، دغې پېښې د مسلمانانو مشرانو سترګې ور روښې کړې او و دوی ته خپله پخوانۍ غلطي چې دوی د انګليسي حکومت علاوه و دوی ته ور ښکاره شوه. دوی اوس په دې پوه شوه چې د خپل قامي او سياسي

ژوندانه د ساتنې دپاره تش د سرکار سره وفاداري په درد نه خوري يا د انګرېزانو د جوړ کړل شوي آئيني ذرايعو غوره ګول کافري او بې معنا دی. د مولانا شبلي د قوله د بنګال د تقسيم منسوخه کېده د مسلمانانو پر مخ د يوې داسې زورورې څاپېړې برابره وه کومې چې د دوی مخ پر دا بله خوا ور واړاوی.

د بنګال د تقسيم د منسوخۍ اعلان چې وشو په لومړی فروري ۱۹۱۲ع د لاهور په موچي دروازه کې يوه احتجاجي جلسه را و غوښته. چې اقبال هم ګډون پکې وکړ. وينا کوونکو زوروري، احساساتي او د خښمه ډکې ويناوې وکړې، د اقبال وار چې راغلی، دی د تقرير دپاره را ولاړ شو. اوربدونکو داسې احساسول چې د مسلمانانو د تېر شوي برم پر مينار به و دوی ته خبرې کوي.

*"و مسلمانانو ته د خپل پرمختګ دپاره پخپله لاس و پښې غورځول په کار دي. هندوانو چې تر اوسه پورې هر څه تر لاسه کړي دي هغه فقط د دوی د هڅې نتيجه ده. د اسلام تاريخ وګورئ هغه څه وايي د عربو سيمې ته د اروپا بنايانو (معمارانو) د بېکاره کاني خطاب ورکړی وو او ويل به يې چې اوس پر دغه کاڼي يو بنياد نه شي دربدلای. د آسيا او اروپا قامونو د عربو څخه کرکه کول، لاکن کله چې عربانو د هوش څخه کار واخيست او خپل توان يې په کار راوړی نو داغه*

*کاڼي د نړۍ د تمدن په محراب کې بنیاد جوړ شو او قسم په رب چې د روما رنګه د جبروته ډک سلطنت د عربو د سېلاب و مخ ته ځان نه سو ټینګولای. دا د دې قام حالت وو چې پر خپلو پښو پخپله ودرېدی...»*

د دغې وینا سره دغه غونډه د سمدلاسه بې لاستي جوش و خروش د خپل قام د ژوندي تشخص لوري ته را وګرځېدی، په معناداره قوت کې بدل شو چې تر اوسه خو لا را محدود وو لاکن پر مخ یې پراختیا ومونده.

دا سمه ده چې د مسلمانانو په ځنو برخو کې د پاڅون آثار را پارېدلي وه لاکن د د غه پاڅون مرکزونو یو له بله بې تعلقه د کوشنیو- کوشنیو جزیرو په شان خواره واره وه، ګډه ملي مشرتوب یې نه درلودی، نتیجه یې دا شوه چې په مسلمانانو کې د ګډه هندي قومیت رجحان را پیدا شوی وو. د مسلم لیګ او د هندو کانګرس اجلاسونه به یو ځای سره کېده. تر دا وخته اقبال له عملي سیاسته څخه بېل وو، لاکن د مسلم قومیت پر هغه اصولو په بشپړه توان ټینګ ولاړ وو چې پر ده په انګلستان کې د اوسېدو په وخت را څرګند شوی وو.

د اروپا څخه د را ستنېدو پس د ۱۹۱۴ع پوري زمانه د اقبال د بنیادي فکر د بنسټ او بشړتوب زمانه وه.

په ۹ نومبر ۱۹۱۴ع د اقبال مور په حق ورسېده، د اقبال په شخصي ژوندانه کې دا تر ټولو لوی غم وو. د مور د رخصتېدو سره د ده د ژوندانه پخوانی طرز ختم شو.

اکبر الـه آبـادي د ده د مـور قطعـه تـاريخ ورتـه را ولېږل چـي د قبر پر شنخته يې وکښه :

مـــادر مرحـــومـــۀ اقبـــال رفـــت
سـوۓ جنـت زيـن جهـانِ بےثبـات
گفـــت اکبـــر بـــادلِ پُـــر درد و غـــم
"رحلـتِ مخدومـه" تـاريخ وفـات
۱۳۳۳ه ق

پـر دغـه موقـع اقبـال هغـه عظيمـه مرثيـه وکښـه چـې سـرخط يې وو "والده مرحومه کی یاد میں" د مور مرحومې په ياد کې.

د ۱۹۱۵ع پـه مـابين کـې اسـرار خـودي لـه چاپـه را ووتـه خـو "رمـوز بـے خـودی" د ۱۹۱۷ع تـر پايـه بشـپړه شـوه. د اقبـال د خـودي تصـور پـه دغـه مثنويـانو کـې پـه خـورا وضـاحت او بشپړتوب سـره مـخ تـه راغلـی. پـه ځنـو ځـانګو کـې ځنـې غلـط فهميـانې هـم را پيـدا شـوې چـې وروسـته يـې تـاريخ ټکـور وکـړ. دغـو دواړو مثنويـانو د مسـلمانانو د يـوې لـويې طـبقې د احسـاس کړه وړه ور بدل کړه.

د نـامتو مستشـرق ډاکټـر نکلسـن "د اسـرار خـودی" انګليسـي ژبـاړه وکـړه چـې پـه ۱۹۲۰ع کـې د لنـدن ځخـه چـاپ شـوه. د دغـې ژبـاړې د خوربـدو پـس يـو شـمېر غربـي ليکوالـو پـر مثنـوي بانـدي خپـل نظرونـه ځرګنـد کـړه. د نـامتو امريکـايي اديـب او نيوکه کوونکي (نقاد) هربـرټ ايډ تبصـره پـه "نيـو ايـج" کـې چـاپ شوه. ده د اقبـال موازينـه د امريکـايي فلسـفي شـاعر والـټ وټمـين

سره وکړه او ویې لیکل چې دغې مثنوي د هندوستان د مسلمانانو ځوانانو په خیالاتو کې یو قیامت راوستلی دی. یوه هندي مسلمان خو تر دغه ځایه هم ولیکل چې اقبال په موږ کې د مسیحا په څېر را څرګند شو. چا چې په مړو جسدونو کې د نوي ژوندانه رمک را وځغلاوه. د اقبال غوره نکاتو او علم د فکرونو په بې شمېروالی کې د یوه ایمان یووالي تړون را پیدا کړ او یو داسې منطق ته چې تش د مکتبونو او مدرسو د لوستونکو پورې را لنډ وو د یوه نړیوال پیغام بڼه ورکړه او و نړۍ ته یې وړاندې کړ. داغه سوبٌ دی چې اقبال د کامل انسان د خیال د صداقت ادراک تر نطشه او وتهمین په پرتله ښخې زیات په ډاډ سره وړاندې کړ.

په اروپا کې جهاني جګړه پیل شوې وه، چې اثرات یې په هندوستان کې هم را څرګند شوي وه. د انګلیسي حکومت رویه ډېره زیاته سختېده چې د جنګ و پای ته د رسېدو پس هم باقي پاته شوه، ځکه نو د انګلیسي دولت پر ضد پاڅونونه نور هم پیاوړي کېده.

په ۱۳ اپریل ۱۹۱۹ع د امرتسر ښار په جلیانواله بڼ کې یوه احتجاجي جلسه جوړه شوې وه، د زماني رسوا جنریل ډایر خلک سره را کوره کړه او ګولۍ یې ورته ونیوې. په سوو وګړي یې مړه کړه که څه هم اقبال په دغه زمانه کې کورنی شوی وو لاکن د دغې پېښې تاو د ده و زړه ته ور ورسېدی. ده د دغو مړو په یاد دغه شعر وکښی :

ہر زائرِ چمن سے یہ کہتی ہے خاکِ پاک
غافل نہ رہ جہان میں گردوں کی چال سے
سینچا گیا ہے خونِ شہیداں سے اس کا تخم
تو آنسوؤں کا بخل نہ کر اس نہال سے

عبدالمجید سالک په خپل کتاب "ذکر اقبال" کې کاږي :

"اوس درست هېواد د مذهب و ملت د توپېر په چپه د خښم او کرکې هنګامه زار جوړ شوی وو. د مسلمانانو پر زړونو د جلیانواله باغ او پر پنجاب باندې د ظلمونو څخه هم ژور زخم د ترکیې ماتې ور اېښی وو. د کوم له کبله چې دا خطر وو چې ترکان دې د آل عثمان خپلواکي او خودمختاري په خاورو ور ګډه کړي، د خلافت اسلامیه پر مسند باندې د فرنګیانو بانباوې ګرځېدې...".

په داغه کال د ستمبر په میاشت کې مولانا محمدعلي جوهر د څلورکلن بند پس د آل انډیا مسلم کانفرنس و هغې مشهورې احتجاجي غونډې ته د ګډون دپاره لکهنو ته را ورسېدی په کومه کې چې د "خلافت کانفرنس" بنسټ کېښوول شو. د خلافت کانفرنس په تاسیس سره د مسلمانانو بېخي ډېرې هیلې تړلې وې، لاکن بدبختانه پر مخ دغه کانفرنس د کانګرس سره اتحاد وکړ او د دوی مشرانو ګاندهي خپل سرمشر وګاڼی، اقبال د ایالتي خلافت کمېټی غړی وو، لاکن د حالاتو دغه بدلون د ده د خلافت د مشرانو سره ترخه

اختلافات را منځ ته کړه. د اختلافاتو دوې وجې وې. لومړی دا چې اقبال په دې حق کې نه وو چې د خلافت پلاوی (وفد) دي د خبرو دپاره انګلستان ته ولاړ شي، هغه دا د انګرېزانو دسیسه بلله. دویم دا چې هغه د هندوانو سره یو ځای د عدمِ تعاون تحریک پیاوړی کول د مسلمانانو دپاره تاواني ګاڼه، هغه په دې چې د هندوانو او مسلمانانو تر منځ دواړو خواوو ته د منلو وړ موافقه نه وه. تش د انګرېز دښمنی پر ګډ بنیاد باندې د ګډ قومیت نیمګړی تصور د مسلمانانو ځانګړی ملي حیثیت ختم کاوه.

کله چې دا اختلافات حل نه شوه نو اقبال د ایالتي خلافت کمېټۍ څخه جلا شو. د اقبال ځراکت دا درک کړې وه پخپله د خلافت عثمانیه راتلونکې خوندوره نه ده، نو ځکه د مسلمان قومونو ملي یووالی د دې پر ځای په څه بل اصول باندې کتل په کار وو. په ١٦ اپرېل ١٩٢٢ع د انجمن حمایت اسلام په کلنۍ غونډه کې اقبال خپل اوږد نظم *"خضر راه"* واوراوی. عبدالمجید سالک هلته موجود وو. هغه لیکي :

"یو خو په دغه نظم کې د اقبال شاعرانه تخیل او د بدیع پسول په بشپړه توګه ځلېدی. پر یوه یوه بیت یې د ذوق او علاقې ښتنان ځنګېده، دویم اقبال په دې نظم کې د جهاني جنګ د اتلو اقوامو د دروغو، د دوی ابلیسانه سیاست، د سرمایه دارانو مکر و چالاکي، د مزدورانو پر بیداري د عالم اسلام خصوصًا د ترک د آلِ عثمان پر بې اسرې بې لاس و پښو

ورځ بانـدې ډېـر پـه اثرناکـه او خوښـدور انـداز تبصـره کـړې وه. هـم پـه دغـه لـړ کـې يـې د نسـلي قوميـت او د رنـګ و ويـنې د امتياز پر خيالاتو ښه په کلکه لګېدلی وو..."

د اقبال پر بشپړه شاعري بانـدې يـوه نعتيـه فضا خـوره وه، د ده خپلـه هـم داغـه حـال وو. د ده بشپړه شخصـيت کـه پـه يـوه لقب سـره پسـولل کېدای شـي نـو هغـه دی "عاشـق رسـولﷺ" د يـوې واقعـې څخـه څرګنـديږي چـي پـر ده د رسـول اکـرمﷺ د حضور څخه يوه خاصه پيرزوينه شوې وه.

د جنـوري ۱۹۲۰ع يـوه ورځ وه. يـو ليـک ورتـه راغلـی، چـي د ليکـونکي نـوم او درک نـه وو پکښـې. پکـې ليکلـي وو چـي د نبي کريمﷺ په دربـار کـې ستا يـو خصوصـي ځـای دی. پـه کـوم چي ته نه يې خبر. که تـه پلانـی وظيفـه ووايـې نـو تـه بـه پـه هغـې خبر شې. هغه وظيفـه هـم پـه هغـه ليـک کـې لـيکلې وه، ولـې چـي د خط را لېږونکي خپـل نـوم لا نـه وو ليکلـی، اقبـال د يـو چـا لـه خوا ملنډې وبللې، پـر دغـه زېـري يـې غـور نـه کښېښـوو، يـو څـو ورځـې هغـه ليـک هلتـه پـروت وو. بيـا دوري دوري شـو. يـو څلـور مياشـتې پـه تېرې شـوې وې چـي يـو عجيبـه او غريبـه واقعـه پېښـه شوه، کومه چي اقبـال خپـل پـلار مبـارک تـه چـي هغـه پخپلـه هـم د اسرارو ښبتن وو ته ور ولېږله.

د پـرون نـه آ بلـې ورځـې (ورمـه ورځـې) خبـره ده چـي د کشمير څخه يـو پيرزاده زمـا سـره د ليدلو دپـاره راغلـی، عمـر بـه يې تخميناً داسـې دېـرش پينځـه دېـرش کالـه وو. د کـره وره څخـه

يې سپېڅلتوب څرګندېدى، د خبرو څخه هوښيار، پوه او لوستى څوک ښکارېدى. لاکن د دې دمخه چې زما سره دى يو خبره وکړي زما په ليدو بې اختياره په ژړا شو. ما فکر وکړ چې ښايي مصيبت زده دي وي او زما څخه څه کومک ته راغلى دى. ما چي پوښتنه ځنې وکړه هغه وويل چې د څه ډول کومک اړتيا نه لرم، پر ما د خداى ډېر فضل دى. زما مشرانو د خداى تعالٰى ﷻ ملازمت کړى دى او زه يې تقاعد (پينشن) خورم، د ژړلو سوب نه خوشالي ده نه غم، ما چې تفصيلي حال ځنې وپوښتى نو هغه راته وويل چې په نوګام چې زما د کلي سري نګر سره نژدې پروت دى کې ما د کشف په عالم کې د نبي کريم ﷺ دربار وليدى. د لمانځه دپاره صف و درېدى، نو حضور سرور کاينات ﷺ پوښتنه وکړه چې محمداقبال راغلى دى که نه؟ معلومه شوه چې دى په دې محفل کې نه وو، يو بزرګ يې د اقبال د راغوښتلو دپاره ور ولېږى. لږ ساعت پس ما وليده چي يو ځوان سړى چې ږيره يې خريلې وه سپين رنګ يې وو، د هغه سپين ږيري سره راغلى، په لمانځه چې را داخل شو، د حضور سرور کاينات ﷺ و راسته خواته و درېدى. پيرزاده صاحب وويل چې تر دې دمخه زه ستا د څېرې سره ولد نه وم، نه دي نوم را معلوم وو. په کشمير کې يو بزرګ دى نجم الدين صاحب نومېږي، هغه ته زه ورغلم دا ټوله قصه مې ورته وکړه، نو هغه ستا ډېر تعريف راته وکړ. هغه ته ستا د ليکونو په ذريعه پېژندلې. که څه هم هغه ته کله هم نه يې

لیدلی، د هغې ورځې ما دا تـر زړه وکښـه چـي لاهـور تـه بـه سـتا د لیدو دپـاره درځـم، نـو هـم پـه دغـه تـش سـتا د لیـدو دپـاره مـا د کشمیر څخه دا سفر را وکـړ او سـتا پـه لیـدو مـا لـره بـې اختیـاره ژړا پر دې راغلـه چـي پـر مـا بانـدې زمـا د کشـف تصـدیق وشـو، ولـې چي ستا هغـه کـړه وړه چـي مـا د کشـف پـه حالـت کـې لیـدلي وو او په دغه څېـره کـې دي د یـوه وربښتـه فـرق نشـته. د دغـې قصـې په اورېدلو سره مـا لـره هغـه نومـورکی لیـک پـه یـاد راغلـی د کـوم یادونه چي مـا د دې لیـک پـه پیـل کـې وکـړه. زه ډېـر شـرمنده یم او روح مـي ډېـره د کـړاو او اضـطراب پـه حالـت کـې ده چـي مـا ولې هغه لیک ضـایع کـړ. اوس مـا لـره هغـه وظیفـه هـم پـه یـاد نـه راځي کومه چـي پـه هغـه لیـک کـې لـیکلې وه. تـه مهربـاني وکـړه ماته د دغـه مشـکل څـه حـل را وښیـه، ولـې چـي پیرزاده صـاحب دا ویله چي ستا په باب چـي مـا څـه ولیـده هغـه و تاتـه سـتا د پـلار او مور د دعاوو نتیجه وه.

پـه لومړۍ جنـوري ۱۹۲۳ع و اقبـال تـه د "سـر" خطـاب ورکـړل شـو. د ده پخـواني اشـنای مـیر غـلام بهیـک نـیرنگ دا اندېښنـه ښکـاره کـړه چـي دی بـه اوس شـاید د آزادي اظهـار څخـه کـار وا نه خلي نو اقبال د دې په ځواب کې ورته وکښه :

"مـا بـه د دغـه اعـزاز خبرتیـا پخپلـه درکـړې وای، لاکن د کومې دنیـا چـي زه او تـه اوسېدونکي یـو پـه هغـه دنیـا کـې دغـه ډول پېښـې تـر احسـاس را کښتـه وي. پـه سـوونو لیکونـه او تارونـه راغلـه او را روان دي او زه پـه

دې ډېر حيران يم چې خلک ولې دغه شيان دومره ارزښتمن ګڼي. پاتې شوه هغه خطره چې ستا و زړه ته يې احساس ور پېښ شوی دی، نو زما په خدای ذوالجلال قسم دی د چا په قبضه کې چې زما ځان او آبرو دی او قسم مې دی په هغه سپېڅلي او برتر وجود(ﷺ) چې د چا له کبله زما پر خدای ﷻ باندې ايمان په برخه شوی دی او مسلمان بلل کېږم. د دنيا يو قوت هم ما د حق ويلو څخه نه شي را ګرځولای. انشاءالله".

په ۳۰ مارچ ۱۹۲۳ع د انجمن حيات اسلام په جلسه کې اقبال خپل مشهور نظم "طلوع اسلام" واوراوی. دا نظم پر يونانيانو باندې د ترکانو د برياليتوب پر موقع ليکل شوی وو. نظم څه دی د مسلمانانو د ځلاند راتلونکي يو پيغام دی :

*دليل صبح روشن ہے ستاروں کی تنک تابی*
*افق سے آفتاب ابھرا گیا دورِ گراں خوابی*

د سيد راحت زاخېلي ژباړه :

چې د ستورو رڼا تته شي دليل دا د صبا دی
لاړو تېر شو د خوب وخت د نمر را وختـه رڼا

په مئ ۱۹۲۳ع کې *"پيام مشرق"* چاپ شو. د دغه کتاب څه رنګ والی پخپله اقبال دا ډول بيانوي :

*" "د پيام مشرق" د ليکلو محرک د الماني حکيم*

حیات ګوېته غربي دیوان دی. د دې مدعا زیاتره هغه اخلاقي مذهبي او ملي حقیقتونه پېش نظر راوړل دي د کوم اړه چې د افرادو او اقوامو د باطن د تربیت سره ده. تر دې سل کاله وړاندې د المان او د شرق په روان حال کې څه نه څه ورته والی ارومرو شته. لاکن رښتیا خبره دا ده چې د عالم د اقوامو د باطني کړاو د کوم د ارزښت صحیح اندازه چې تش موږ په دې وجه نه شو کولای چې هغه پخپله د دغه اضطراب یا کړاو څخه متأثر دي. دا پخپله د یوه لوی روحاني او تمدني انقلاب پېش خیمه دی. د اروپا جنګ عظیم یو قیامت وو، کوم چې د پخوانۍ نړۍ نظام قریباً له هره اړخه فنا کړی دی او اوس د تهذیب و تمدن د دغو ایرو څخه د ژوندانه د اضطراب د تل څه یو نوی آدم او د هغه د اوسېدلو دپاره د یوې نوې نړۍ تعمیر کوي. د کوم یو نیم رویه خاکه چې و موږ ته د حکیم آین سټاین او برګسان په تصانیفو کې په لاس راځي... شرق او په خصوصًا سره اسلامي شرق د سوونو کلونو د پرله پسې خوب سترګې را روښې کړي دي. لاکن د شرق قامونو ته دا محسوسول په کار دي چې ژوند په خپله حوالې کې د څه ډول انقلاب نه سي راوستلای. تر څو پورې چې لومړی د هغه په دننني ژوروالي کې انقلاب نه شي را او کومه نوې نړۍ خارجي وجود نه

*شـي غـوره کـولای، تـر څـو چـي د هغـه وجـود لومړی د انسانانو په ضمیر کې ښه نه کړي غوره".*

د اقبال په فارسـي ټولګـو کـې پـه فکـري اعتبـار "جاویـد نامـه" او پـه جمالیـاتي لحـاظ سـره "زبـور عجـم" ځانګړتیـاوې لـري، خـو بیا هم "پیامِ مشرق" تـه دغـه ځـانګړتوب ور پـه برخـه دی چـي پـه دې کـې فلسـفیانه فکـر او شـعري جمالیـات پـر خپـل خپـل ځـای و انتهـا تـه رسـېدلي او سـره یـو شـوي دي. پـه دې کتـاب کـې د اقبـال بهتـرین نظمونـه شـامل دي، لکـه تسـخیر فطـرت، نـوائے وقـت، حیـات جاویـد، فصـل بهـار، افکـار انجـم، سـرودِ انجـم، محـاوره بـین خـدا و انسـان، تنهـائی، شـبنم، جـوئے آب، نـوائے مـزدور وغـیره. څلـوریځې او غزلونـه د دې عـلاوه دي. د فارسـی څو ټولګې چي یې راغلې، نـو ملګرو دا غوښتنـه څـنې وکـړه چـي د اردو کـلام مجموعـه دي هـم راشـي، لاکـن د دوی دغـه غوښتنه په ډېر ځنډ ومنل شـوه، ځکـه چـي اقبـال پـر خپلـو اردو نظمونـو نظرثـاني کـول غوښتـل. د کـوم دپـاره چـي د ده څخـه وخـت نـه وو. آخـر پـه ۱۹۲۴ع کـې د ده د لومـړی اردو ټـولګې "بـانګ درا" د خورېـدو نوبـت راغلـی. د اقبـال د فکـري او هنـري پـرمختګ دپـاره د "بـانګ درا" یـو ځـانګړی ارزښـت لـري. د دغـه کتاب په سریزه کې سر شیخ عبدالقادر لیکي :

"... د خـدای شـکر دی چـي آخـر خـو د اردو کـلام د شـوقیانو دغـه پخوانـی آرزو سـر تـه ورسـېده، او د اقبـال د اردو

نظمونــو ټولګــه چــاپ شــوه، چــې دوه ســوه دونيــوي مخونــه لــري او پــر درو برخــو وېشــل شــوې ده. لومړۍ برخــه يــې تــر ۱۹۰۵ع پــورې نظمونــه لــري، دويمــه برخــه د ۱۹۰۵ع څخــه تــر ۱۹۰۸ع پــورې او درېيمــه برخــه يــې د ۱۹۰۸ع څخــه تــر اوســه پــورې ويــل شوي شعرونه لـري. دا پـه دعـوه سـره ويـل کېداى شي چـې پـه اُردو ژبه کې تر ننه پـورې داسـې د شعر کتـاب نشته پـه کـوم کـې چــې د خيــالاتو دومــره شــتمني وي او دومــره شــمېر مطالــب او معاني دي پکې يـو ځـاى شـوي وي ولـې بـه نـه وي چـې د يـوې سلې (صدۍ) د څلـورمې بـرخې د مطـالعې، تجـربې او مشـاهدې نچوړ او د سيل و سياحت نتيجه ده".

د غزلــو پــه څېــه پــه "بــانګ درا" کــې "خفتګــان خــاک ســے استفســار" (پــه خــاورو کــې د ويــدو څخــه پوښتنــه) "تصــوير درد" (د درد تصـوير) "ګورسـتانِ شـاهی، شـکوه، جـواب شـکوه، بـزم انجـم، شمع اور شاعر، *حضور رسالت مآب میں*، دعا، *والده مرحومہ کـی یـاد مـیں*، خضــر راه او د طلــوع اســلام پــه ډول نظمونــه شــامل دي. اقبــال د ماشومانو دپـاره هـم څـه نظمونـه کښلـي وه، چـې ټولـه يـې هـم په داغه مجموعه کې راوړي دي.

خلافــت کـــانفرنس د برصـــغير د مســـلمانانو احساســـات را و پــارول دوی يــې دا ډول پــه خپــل واک کــې واخيســتل چـــې د مسلم لـيګ وجـود لا د دوی تـر سـترګو نهـام شـو، پـه ۱۹۲۴ع کـې د قايـد اعظـم محمـدعلي جنـاح د پرلـه پسـې هڅـو پـس بيرتـه پـه پښــو و درېــدی، هلتــه پــه پنجــاب کــې هــم د مســلمانانو سياســت د

ستونزو سره مخ وو، په مسلمانانو کې د ښاریانو او کلیوالو سترې پېښه وه، چې په نتیجه کې یې یونینسټ ګوند په وجود کې راغلی. د ۱۹۲۳ع په ایالتي انتخاباتو کې د اقبال ځخه غوښتنه وشوه چې د مجلس قانون ساز په چوڼ کې دي برخه واخلي، خو ده انکار وکړ، ځکه چې د ده نږدې ملګري میاں عبدالعزیز بیرسټر له هم دغه ځایه کاندید وو، د کومه ځایه چې اقبال نوم وړاندې شوی وو. اقبال د معمول سره سم د وکالت په دنده اخته وو. ۱۹۲٦ع راغلی په دغه کال بیرته د پنجاب مجلس قانون ساز دپاره چوڼ کېدی خواخوږو یو وار بیا و ده ته وویل، د دې واره میاں عبدالعزیز هم دا وویل چې دی به د اقبال په مخ کې نه درېږي، بلکه مرسته به هم ورسره کوي. د دې واره اقبال کاندیدېده ومنل. د کاندید کېدو باقاعده اعلان یې چاپ شو، چوڼ وشو ښکاره خبره وه چې اقبال دي بریالیتوب ومومي. په کونسل کې دننه د یونینسټ ګوند اکثریت وو. د دوی د توان د مسلمانانو په قامي ښېګړه کې د په کار راوړلو دپاره اقبال په یونینسټ ګوند ور ګډ شو، لاکن کله چې یې د دغه ګوند ناقابل اصلاح نیمګړتیاوې په خپلو سترګو ولیدې، نو اقبال بیرته ځنې بېل شو. پاته وخت یې د ځانګړي غړي په حیث تېر کړ. په داغه کال یې د پنجاب ایالتي مسلم لیګ ګوند سیکتر جوړ کړ. د کوم له کبله چې پر ده باندې د برصغیر د مسلم سیاست ور را پرانیستل شو. اوس اقبال د عملي سیاست په ډګر کې قدمونه ایښي وو.

د هندوانو له اړخه د شدهي او سنګهټن بدنامه غورځنګونه په مستۍ کې وه د کوم له کبله چې ګام پر ګام د مسلمانانو او هندوانو تر منځ نښتې کېدې. د دغو فتنو د مخنیوي دپاره په مسلمانانو کې هم بېلې بېلې تبلیغي ډلې جوړې شوې وې. غلام بهيګ نیرنګ و ده ته د یوې داسې ډلې د کومک دپاره ولیکل نو علامه اقبال د خپلو هڅو د وړاندې کولو په لړ کې ورته ولیکل :

*"زما په وړاندې د اسلام د تبلیغ کار دا وخت تر واړو کارونو وړاندې دی. که په هند کې د مسلمانانو مرام د سیاسته څخه تشه آزادي او اقتصادي پرمختګ دی او د اسلام ساتنه د دوی د مرام توکي نه دي، لکه څنګه چې نن صبا د قام پرستانو له رویې څخه څرګندیږي نو مسلمانان به په خپلو هڅو کې کله هم بریالي نه شي".*

په لیدلو کې خو دا ساده پاده یو دوې خبرې څرګندیږي لاکن د علامه په دغه ارشاد کې د پاکستان د تحریک څرک تر سترګو کیږي.

په جون ۱۹۲۷ع کې "زبور عجم" د چاپه را و ووت. د مولانا ګرامي سره یې د دې کتاب یادونه داسې کړې ده :

*" زما کتاب "زبور عجم" پای ته رسېدلی دی. په ورځ دوې کې به د کاتب تر لاسو ور وسپېرې او په پینځلس ورځې کې به دننه د چاپه را ووزي. دا*

*کتاب څلور برخې لري. په لومړۍ برخه کې د انسان راز و نیاز دی د خدایه سره، په دویمه برخه کې د آدم خیالونه دي د آدم په باب. هنري ځرنګوالی د دواړو برخو د غزلو په ډول دی، یعني غزل وشمه تو تپ، په دریمه برخه کې "د مثنوي ګلشنِ راز" (د محمود شبتر) د پوښتنو ځوابونه دي. نوم یې ما "مثنوي ګلشن راز جدید" ټاکلی دی، په څلورمه برخه کې یې یوه مثنوي ده چې نوم مې "بندګي نامه" ورته ټاکلی دی. د مثنوي مضمون په دې ډول دی چې د غلامۍ اثر پر فنونِ لطیفه مثلاً موسیقي، انځورګري وغیره باندې څه ډول کېږي".*

په ۲ جنوري ۱۹۲۹ع اقبال د ډيلي څخه د جنوبي هند په دوره رهي شو. هلته یې دالهیات اسلامیه د نوي تشکیل پر موضوع په مدراس، بنګلور او حیدرآباد دکن کې خطبې ورکړې. د جنوري په پای کې بیرته لاهور ته را ورسېدی او بیا یې د نورو درو خطبو په زیاتونه سره د Six Lectures On The Reconstruction Of Religious Thought In Islam په نامه چاپ کړ.

په ۱۹۲۹ع کې د افغانستان سره د اقبال د عملي تړون پیل وشو. په ۱۷ جنوري ۱۹۲۹ع بچه سقه امیرامان الله خان د افغانستان تولواک د هېواد څخه و ایستی او پر کابل یې قبضه وکړه. په درست هېواد کې خانه جنګي پیل شوه. تر څو په

پـای کـې جنـرل نادرخـان د بچـه سـقه د سـرکوبۍ دپـاره را ولاړ شو، اقبال دی پېژاندی او په مختلفو ذریعو یې د ده مرسته وکړه.

د جنـرل نادرخـان د مـالي مرسـتې دپـاره اقبـال د برصـغیر د مسـلمانانو پـه نـوم یـو اپیـل شـایع کـړی، د کـوم پـه لیـدلو چـې داسې محسوسیږي لکه نن چې هم دی و موږ ته وایي :

*"دا وخـت د اسـلام پـه زړونـو مربـع میلـه خـاوره او د اسـلام د لکونـو زامنـو ژونـد او شـته والي تـه خطـر پېښ دی. د یـوه دردلرونکـي او غیرتمـن ګاونـډي پـه حیثیـت د هنـد پـر مسـلمانانو دا فـرض ده چـې افغانسـتان د فنـا د بـاد د دغې وروستۍ هڅـې څخـه د ژغورلـو چـې خـومره کېدای شي په مړانه کوشش وکړي".*

پـه فلسـطین کـې د یهودیـانو د زیاتېـدونکي د تشـدده ډکـې غلبې او په خصوصیت سره د مسجد اقصٰی پر یـوه برخـه بانـدې د هغــو یــو د ناپاکــه قبضــې پــه ضــد پــه ټولــه هندوســتان کــې د مسـلمانانو اجتمـاییي غونـډې وشـوې. پـه اووم سـتمبر ۱۹۲۹ع د اقبـال پـه صـدارت کـې یـوه لویـه پرتمینـه جلسـه وشـوه، اقبـال پـه خپلـه صدارتي خطبه کې وویل :

"دا خبـره ببخـي غلطـه ده چـې د مسـلمانانو ضـمیر د خـپلې خـاورې د مینـې څخـه خـالي دی. البتـه دا خبـره سـمه ده چـې د وطـن د مینـې پـه چپـه د مسـلمانانو پـه زړونـو کـې د دیـن او د اسـلام مینـه هـم برابـره موجـوده

وي او دا هغـه جذبـه ده چـې د ملـت پرېشـانه او خـواره واره وګړي سره را ټولـوي، را يـو ځـاى کـوي يـې او مـدام همداسې کوي...".

پـه ۱۹۱۴ع کـې د انګرېزانـو پوهـانو د خپلـو سياسـي غرضـونو او هدفونو دپـاره يهوديـان آلـهٔ کـار جـوړ کـړه و صيهوني غورځنـګ ته يـې وده ورکـړه او د خپلـو غرضـونو د بشپړتوب دپـاره چـې يـې د کومـو لارو څخـه کـار واخيسـت د هغـو نتيجـه زمـوږ پـه وړانـدې ده. يهوديـان د مسـجد اقصٰـى د يـوې بـرخې د مالکانـه تصرف دعـوٰى لـري. هغـوى د فسـاد اورونـه بټخـي تـاوده سـاتلي دي. مسـلمانان د هغـوى تورسـرې، واړه ماشـومان د ګـډو پسـونو پـه شـان حلالـيږي... اوس د برطانيـا دولـت پـه فلسـطين کـې د حـالاتو د تحقيقـاتو دپـاره د يـوه کميشـن د ور اسـتولو منظـوري ورکـړې، لاکـن زه دا اعـلان کـوم چـې د مسـلمانانو پـر دوى بانـدې يـو ډول اعتماد نشته.

د نومبر ۱۹۲۹ع پـه وروستى اوونـى کـې اقبـال علـي ګړهـ تـه ولاړى او په مسلم پوهنتـون کـې يـې د الهيـات اسـلاميه پـه لـړ کـې نورې درې خطبې ورکړې.

پـه ۱۷ اګسـت ۱۹۳۰ع د اقبـال پـلار شـيخ نورمحمـد پـه سـيالکوټ کـې پـه حـق ورسـېدى. د مـور د مړينې نېټـه خـو يـې اکبر الـه آبـادي را ايسـتلې وه، لاکـن د پـلار د نېټې قطعـه پخپلـه اقبال وويل چې د قبر پر شنخته يې ور وليکله :

پـدر مـرشـدِ اقبـال ازیـن عالـم رفـت
مـا همـه راهـروان منـزل مـا ملـکِ ابـد
هاتف از حضرتِ حق خواست دو تاریخ رحل
آمـد آواز "اثـرِ رحمـت" و "آغـوشِ لحـد"
۱۳۴۹ه ق ۱۳۴۹ه ق

د ۱۹۳۰ع په منځ کې د "تشکیل جدید الهیات اسلامیه" په نامه په جنوبي هند او علي ګړه کې اورول شوې شپږ خطبې په انګلیسي ژبه په لاهور کې له چاپه را ووتې. اوس دا کتاب اووه خطبې لري، اوومه خطبه یې "آیا مذهب امکان لري؟" د انګلستان د ارسټاټیلین سوسایټي په درخواست وروسته ولیکل او په ۱۹۳۲ع کې په انګلستان کې واورول.

عارفانو د حقیقت د بیانولو دوې طریقې ښوولې دي :

**عشقي او عقلي** :- د کومو ښاغلو دپاره چې پر غیبو ایمان یعني د دین ټولپاته حقیقتونه د محسوساتو په ډول یقیني جوړ شي، هغه د عشق څښتنان شي ولې چې په حسي او تجربي امورو کې د منطقي او عقلي استدلال څه ضرورت نه وي ځکه نو د عشق د څښتنانو د واردات په ښکاره کولو کې د برهان پر ځای د پېښې او حکایت ډول غالب وي. و یوې خواته د انسانانو یوه ډېره لویه ډله د عصري تقاضو په وړاندې د اوسېدلو او فکر کولو اړتیا لري، دغه خلک بدیهیات هم د رواجي، علمي او ساینسي کچې د نفي او اثبات په کومک بلکه د سند بغیر د پوهېدلو څخه عاجزه وي. دوی د دین د

تخاطب په لیکه کې د را داخیلولو دپاره دا ضروري ده چې د دوی په نفسیاتي او ذهني سانچو کې د څه غټ بدلون د بې ځایه هڅې پر ځای باید حقیقتونه د دوی په سویه راوستل شي او دوی ته ونبوول شي. دغه کار د هغه عارفانو دی چې د دین د حقیقت او غایت سره سره د شیانو د حقیقت او غایت هم بشپړه عرفان لري او هغه د عقل څښتنان وي. اوس ولې چې لفظونه د خپلو رښتینو معناوو څخه لیرې کیږي ځکه نو عقل تش یو ذهني قوت ګڼل شوی دی چې تش په عالمِ محسوسات کې د شیانو تر تجزیې پورې را لنډ شوی دی او حال دا چې عقل په خپله صحیح معنا کې د حقیقتونو د تفصیلي پېژندنې او د هغه یو د بل سره د تړون د انکشاف یوه لویه وسیله ده. د اقبال سره دغه دواړې طریقې موجودې دي. د ده شاعري د عشقي لارې استازیتوب کوي او خطبې یې د عقلي لارې. د خطباتو بنیادي موضوع د دین حقیقتونه د انساني فکر او تجربې د زماني ارزښتونه او ټولنیزو نفسیاتو د بدلېدونکو توکو سره پخلا کول دي. د اقبال په خیال دغه ضرورت د اسلام په پیل کې هم په نظر کې نیول شوی وو.

د ۱۹۳۰ع کال د پاکستان او اقبال دواړو دپاره د یوه تاریخي کال ارزښت غوره کړ. د دسمبر په نهه ویشتمه نېټه د اله آباد په ښار کې د آل انډیا مسلم لیګ کلنۍ غونډه وشوه. قایداعظم د لومړي ګردي مېز په کانفرنس کې د ګډون دپاره لندن ته تللی وو. د ده د پرېکړې مطابق به د دغې غونډې

صدارت اقبال کاوی، دلته ده هغه تاریخ جوړوونکې خطبه ورکړه چې په خطبه اله آباد سره ونومول شوه، په دغه خطبه کې په لومړي ځل په هندوستان کې د یوه خپلواک مسلمان ریاست یوه کلکه او نه بېلېدونکې خاکه وړاندې شوه.

د برطانیا دولت د دویم ګردي مېز په کانفرنس کې د ګډون دپاره اقبال ته هم بلنه ورکړه. د لندن د تلو دپاره په ۸ ستمبر ۱۹۳۱ع اقبال د لاهوره رهي شو. په دا بل سهار ډیلي ته و رسېدی. د اسټېشن پر پلېټ فارم باندې په زرو خلک هرکلي ته ورته راغلي وه.

په ۱۰ستمبر ۱۹۳۱ع بمبی ته را ورسېدی، په دا بله ورځ په بحري جهاز کې انګلستان ته رهي شو. په ۲۷ ستمبر لندن ته ور ورسېدی. هسې خو اقبال د دویم ګردي مېز په کانفرنس کې د ګډون دپاره انګلستان ته ورغلی وو. لاکن هلته په انګلستان کې د ده علمي او ادبي شهرت چې د ده د سیاسي شهرت څخه ډېر زیات وو د ده مصروفیات په دوو برخو کې ور ووېشل. د کانفرنس په پیل کې لا څه داسې نخښې نښانې ښکاره شوې چې د اقبال زړه یې ور مات کړ. په ځنې اجلاسو کې یې په لاتعلقه انداز ګډون درلودی، خو کله چې د هیڅ هم مثبتې نتیجې څخه مایوسه شو نو آخر په ۱۹ نومبر ۱۹۳۱ع د مسلمانانو د ډلې څخه را بېل شو او د کانفرنس څخه یې اعلانیه کناره کشي غوره کړه. اوس نو نور په لندن کې پاتېدو په درد نه خوړل. د مولانا غلام رسول مهر په ملتیا د ۲۲م نومبر

په شپه روم ته راغله. درې ورځې يې د خلګو او نوميالیو سره ملاقاتونه او د تاريخي ځايونو سيلونه وکړه. اقبال په اټاليا کې د هغه ځای د ټولواک مسوليني سره هم وليده. په ۲۹ نومبر اقبال اسکندريې ته رهي شو. د دسمبر په لومړۍ نېټه سهار اقبال هلته ورسېدی. پر بندرګاه باندې يو شمېر ملګري د هرکلي دپاره ورته راغلي وه. په داغه ورځ ماپښين د قاهرې دپاره په اورګاډي کې را رهي شو، ماښام قاهرې ته را ورسېدی، په مصر کې د څو ورځو په اوسېدو کې اقبال د تاريخي ځايونو او آثارو سيل وکړ. په يو شمېر مېلمستياوو کې يې ګډون وکړ. د ازهر د جامعې دوره يې وکړه. په ۵ دسمبر ماښام په اورګاډي کې بيت المقدس ته رهي شو.

په ٦ دسمبر سهار بيت المقدس ته را ورسېدی. د نورو نوميالیو سره د هغه ځای مفتي اعظم سيد امين الحسيني هم هرکلي ته ورته راغلی وو. په دا بله ورځ د موتمر عالم اسلامي باقاعده اجلاس پيل شو. اقبال د مندوب په ډول ګډون پکې وکړ. دی يې نايب صدر وټاکی. د ۱۴ دسمبر پورې اقبال په ټوله کاروايي کې ګډون درلودی، اوس را رخصتېدی نو ځکه يې په داغه ورځ و يوه اجلاس ته خپل الوداعي خطاب وکړ.

په ۲۸ دسمبر ۱۹۳۱ع سهار بمبۍ ته را ورسېدی. دلته ډېر نه شو پاته، په داغه ماځيګر په اورګاډي کې د لاهور پر لوري را رهي شو.

په فروري ۱۹۳۲ع کې "جاوید نامه" د چاپه را ووته، دې ته د فارسي "ډیواین کامیډي" ویل په کار دی. په ٦ مارچ ۱۹۳۲ع د اسلامک ریسرچ سوسایټي له خوا په وای- ایم- سي- اې هال کې لومړی د اقبال ورځ و لمانځل شوه. یو شمېر کسانو د اقبال پر شخصیت، فکر او فن باندې مقالې واورولې او تقریرونه یې وکړه.

په ۲۱ مارچ په لاهور کې د اقبال په صدارت کې د آل انډیا مسلم کانفرنس اجلاس وشو. اقبال د صدارت خطبه ورکړه. د دغې زمانې د سیاسي پېښو ژوره جایزه یې ورانده کړه او د راتلونکي د تعمیر پر امکاناتو یې رڼا واچول. دغه خطبه له هره لحاظه ارزښتناکه وه، د دې خطبې بغیر د برصغیر د اسلامي تاریخ په مغز څوک نه شي پوهېدای.

د ۱۹۳۲ع په پای کې د برطانیا د دولت د خوا په لندن کې د درېیم ګردي مېز د کانفرنس تابیا وشوه. دا وار یې هم اقبال ور وغوښتی. په ۱۷ اکتوبر ۱۹۳۲ع اقبال انګلستان ته رهي شو. تر ۳۰ دسمبر پورې هلته وو. اقبال بیا په کانفرنس کې څه دلچسپي وانه خیسته، ځکه چې په دې کانفرنس کې را پورته شوي زیاتره خبرو د وفاق سره اړه درلوده. د کومو سره چې اقبال هیڅ کار نه درلودی.

دی خو په هندوستان کې دننه د ایالیتونو د داسې خپلواکۍ غوښتونکی وو په کومو کې چې د مرکزي حکومت د نامه شی لاندې وي. د ایالتونو براه راست تړون دي په لندن

کې د ناست وزیر هند سره وي.

د انګلستان څخه اقبال فرانسې ته راغلی. په پاریس کې يې د ماسينون او هنري برګسان سره وليدل.

د جنوري ۱۹۳۳ع په لومړی اوونۍ کې هسپانيا ته روان شو. هلته اقبال د نامتو مستشرق (ختيځپوه) آسين پالاکيوس مېلمه وو. په ۲۴ جنوري اقبال په ميډرډ پوهنتون کې د "اسپين او فلسفۂ اسلام" پر موضوع باندې خطبه ورکړه. په هسپانيا کې ده د قرطبې، غرناطې، اشبيليې او طليطلسې سيل هم وکړ. د قرطبې جومات خو د تل دپاره د ده په زړه کې ځای جوړ کړ دغه جومات ته د اقبال د باطن تر تله ځان ورساوه. د کوم له کبله چې نه يواځې د اقبال بلکه د اردو شاعري خوندور نظم "مسجد قرطبه" په وجود کې راغلی.

د اوو سوو کلونو څخه دغه جومات د اذان او د لمانځه څخه تش پاته وو. د دومره اوږده وخت پس اقبال هغه لومړی کس وو چې دالته يې اذان وکړ او لمونځ يې وکړ. د "الله اکبر" ازانګه د جومات روح وي، دا څومره بختوره ورځ ده چې د خدای تعالیﷻ يو بنده دي راشي اووه سوه کاله پس دي دغه چوپتيا ماته کړي او جومات دي بيرته را ژوندی کړي:

اے حرم قرطبہ! عشق سے تیرا وجود
عشق سراپا دوام جس میں نہیں وقت و بود
رنگ ہو یا خشت و سنگ، چنگ ہو یا حرف و صوت
معجزۂ فن کا ہے خونِ جگر سے نمود

قطرۂ خونِ جگر سِل کو بناتا ہے دل

خونِ جگر سے صدا سوز و سور و سرود

تیری فضا دل فروز، میرا نوا سینہ سوز

تجھ سے دلوں کا حضور مجھ سے دلوں کی کشود

عرشِ معلّیٰ سے کم سینۂ آدم نہیں

گرچہ کفِ خاک کی حد ہے سپہر کبود

پیکرِ نوری کو ہے سجدہ میسر تو کیا

اس کو میسر نہیں سوز و گدازِ سجود

کافرِ ہندی ہوں میں دیکھ مرا ذوق و شوق

دل میں صلوٰۃ و درود لب پہ صلوٰۃ و درود

شوق میری لَے میں ہے شوق مری نے میں ہے

نغمۂ اللہ ہو میرے رگ و پے میں ہے

**ژباړه :- د عبدالحلیم اثر افغاني مرحوم.**

اې حرم د قرطبې چې دي له عشقه وجود ستا

عشق د وخت څنې بې غمه عشق دوام دی سراپا

رنګ که خښته ده که کاڼی ساز اواز دی یا که تکی

معجزه د فن په وینو د ځیګر پکې پیدا

د ځیګر د وینې څاڅکي دا وچ کاڼي نه زړه روغ کړي

د ځیګر وینه سرور دی هم سرور سوز و صدا

ستا فضا زړه ځلوونکې ده نوا مې سینه سوزه

دی حضور د زړونو کار ستا پرانیستل یې کار زما
نــه د عــرش معلــی نــه د آدم ســینه څــه کمــه
کــه هــر څــو د مــوتې خــاورې شین آســمان دی انتهــا
توان طاقت نوري وجود کـه د سجدې لـري نو څه شو
د ســجود ســوز او ګــداز چــي درتــه نــه دی مهیــا
زه کافر غوندې هندی یم شوق او ذوق تـه مي وګوره
دی صلوة درود پـه زړه مـي هـم پـه زړه بانـدې مـي دا
هم په غاړه کې مي شوق دی هم مي شوق دی په شپېلۍ کې
او نغمــه د الله هــو مــي ده پرتــه پــه رګ و پــۍ کــې

پـه ۲۵ فـروري ۱۹۳۳ع اقبـال بیرتـه لاهـور تـه را ورسـېدی. د اکتوبر پـه آخـري لسیزه کـې اقبال افغانسـتان تـه ولاړی. نادرشـاه په خپل هېواد کـې و زدکـړې تـه وده ورکـول غوښتـه. پـه دغـه لـړ کـې د یـوې اصـولي کـړنلارې دپـاره هغـه اقبـال سـر راس مسعود او سـید سـلیمان نـدوي د مشـورې دپـاره را وغوښتــه. د نادرشـاه سـره یـې ملاقاتونـه وکـړه. د بېلابېلـو شخصـیاتو او ټولنـو لـه اړخـه مېلمسـتیاوې ورتـه وشـوې. غزنـي، قـلات غلـزي، قنـدهار او ځـنې نـور ځایونـه یـې ولیـده. د مغلانـو د امپراتـورۍ د مشـر ظهیرالـدین بابر، حکـیم سـنایي، سـلطان محمـود غزنـوي او احمدشـاه ابـدالي زیارتونو ته ورغلی دعـاوې یـې ورتـه وکـړې. پـه ۲ نـومبر د قنـدهار څخـه را رهـي شـو، د څلـورم نـومبر شـپه د اقبـال پـه لاهـور کـې وه. د اقبال دغـه دوره کـه څـه هـم لنډه وه، خـو د اقبـال د دغـه خـاورې او پـه دې کـې د اوسـېدونکو وګـړو سـره دومـره ژور تـړون

درلودی چي د ده دپاره دغه د څو ورځو سيل هم يوه تخليقي تجربه جوړه شوه، چي د ده د فارسي مثنوي "مسافر" بنه يې غوره کړه او دا مثنوي د سيد سليمان ندوي د قوله چي د خيبر و سرحد، کابل و غزني او د قندهار د عبرته ډک منظرونو باندې د شاعر اقبال اوښکې دي. د بابر، سلطان محمود، حکيم سنايي او احمدشاه ابدالي د خاموشو تربتونو سره د حال په ژبه پوښتنې او ځوابونه دي. پيل يې د نادرشاه شهيد د مناقبو څخه کيږي او پای يې د محمدظاهر شاه سره پر تړلو هيلو دريږي.

په ۴ دسمبر ۱۹۳۳ع د پنجاب پوهنتون اقبال ته د ډلټ اعزازي سند ورکړی. په برصغير کې د مسلمانانو سياسي ګوندونه د ترخه بېلتون او ګډوډۍ سره مخ وه هر يوه ځپله خپله سُرنا ويله. د مسلمانانو د قامي راتلونکي مسئله عملاً هېره ګړل شوې وه. قايداعظم مايوسه شوی لندن ته تللی وو. د دغو هر څه د ليدلو او پر دې هر څه د زړه خوږلو دپاره يواځې اقبال پاته شوی وو، لاکن قدرت د مسلمانانو ښېګړې غوښته. د اقبال او څنو نورو ښه نيتو په غوښتنه قايداعظم بيرته هندوستان ته راغلی او په ۴ مارچ ۱۹۳۴ع د مسلم ليګ ګوند صدر وټاکل شو. د ليګ په مړه شوي بدن کې ساه و رغړېده او د برصغير د مسلمانانو د ورځې د بدلېدلو پيل وشو.

په جنوري ۱۹۳۵ع کې د اقبال د اردو دويمه شعري ټولګه "بال جبريل" د چاپه را ووته.

په ٦ مئ ١٩٣٦ع قاید اعظم محمد علي جناح رحمة الله علیه د اقبال سره د لیدلو دپاره د ده کور "جاوید منزل" ته ورغلی. ده و اقبال ته د مسلم لیګ ګوند د مرکزي پارلیماني بورډ د غړي د جوړېدو دعوت ورته وکړ. کوم چې اقبال د خپلې درنې ناروغۍ باوجود په خوشالۍ قبول کړ. په ١٢ مئ اقبال بیرته د پنجاب مسلم لیګ صدر وټاکل شو.

په جولای ١٩٣٦ع کې "ضرب کلیم" د چاپه را و ووت، کوم چې اقبال د حاضر دور خلاف د جنګ اعلان ګڼلی وو. دا کتاب اووه برخې لري. اسلام او مسلمانان، زدکړه او تربیت، ښځه، د لطیفه فنونو ادبیات، د شرق او غرب سیاسیات او د محراب ګل افغان افکار. که خبره را لنډه شي نو "بال جبریل" د اقبال د شعري تفکر معراج دی او "ضرب کلیم" د اقبال د فکري شاعرۍ د کمال بشپړتوب دی.

په نومبر ١٩٣٦ع کې د ده فارسي مثنوي "پس چه باید کرد اے اقوام شرق مع مسافر" په کتابي بڼه له چاپه را ووته.

د اقبال صحت ورځ په ورځ خرابېدی. په علاج او تداوی کې یې هر ډول زیار و ایستی، خو څه ګټه نه ور ورسېده. لیکل او لوستل پر بند کړه شول، خو یو کاهښت (فکر) به مدام ورسره وو چې په څه ډول حج ته ولاړ شي او د رسول الله ﷺ پر روضه حاضري ورکړي. د سید راس مسعود په نوم په خپل یوه لیک لیکل شوی په ١٥ جنوري ١٩٣٧ع کې داسې کاږي:

"انشاءالله امید... چې پر کال به حج وکړم او د رسالت ﷺ

په دربار کې به حاضري همورکړم او له هغه ځايه به يو داسې سوغات راوړم چې د هند مسلمانان به يې په ياد لري.

دغه سوغات به څه وايې. "ارمغان حجاز" چې د اقبال د مړينې پس په نومبر ۱۹۳۸ع کې د چاپه را ووته.

د اقبال صحت نور هم لوېدی. ډول ډول ناروغيو په مخه کړی وو. د بهې مزه يې ورځ په ورځ لږېده، لاکن د دې باوجود به يې ورځنې معمولات هغسې روان وه، د همېشه په ډول به د ماځيګر مجلسيان راتله باندار به کېدی، خلګ به راتله او د دوی سره به يې د ټولې نړۍ پر موضوعاتو په بشپړه حاضردماغۍ خبرې اترې کولې. د ليکونو ځوابونه به يې هم ليکل او په خلوت و جولت کې به د شعر ويلو لړۍ هم هغسې روانه وه، چا که به خواشينې ښکاره کړه نو ده به ورته وفرمايل:

نشانِ مرد مومن باتو گويم
چو مرگ آيد تبسم بر لب اوست

په ۲۰ اپرېل ۱۹۳۸ع د شپې يې په حالت کې تغير راتلل پيل شو. چودهري محمد حسين د ښار لوی- لوی ډاکټران سره را ټول کړه. د تفصيلي کتنې پس د ټولو دا صلاح شوه چې که شپه په خيريت تېره شوه نو د سهار څخه به نوی علاج پيل کړو، د لږ ساعت دپاره يې سترګې ترله تېرې شوې چې ورو يې سخت درد واخيستی خوب يې وتښتېدی د خوب د دوا ورکولو هڅه وشوه، لاکن ده انکار وکړ چې زه د بېهوښۍ په حالت کې مرګ نه قبلوم، شپه لا يو څه پاته وه چې حالت

يې نور هم غير شو. د سهار اذانونه چې واورېده شوه پر را ګرځېدلي دوستانو او خواخوږو يې فکر وکړ، چې د پرېشانی شپه تېره شوه ټوله نژدې مسجد ته د لمانځه دپاره ولاړل، يواځې يو پخوانی جان نثار او خدمت کوونکی علي بخش ورته ناست وو، اقبال اچانک پر زړه لاس ونيوی چې دلته مې ډېر شديد درد دی. علي بخش را پورته کړی په څنګلو کې يې نيولی وو چې څه وکړي. اقبال الله ووايه او سر يې يوه لوري ته ايله شو. پوره پر څورلس منټه بالا پينځه بجې د سهار د اذانونو په سايه کې دا سړی د مرګ پر پله را پورې واتی چې د خدای د بيري مجسمه او د رسول الله ﷺ د عشق نمونه وو.

انا لله و انا اليه راجعون

د اقبال د مړينې خبر سمدلاسه په درست ښار کې خور شو ورځپاڼو ضميمې را و ايستې، بازارونه او د مسلمانانو ټولې اداري و تړل شوې، په ښار کې د ژوندانه هر عمل په ټپه و درېدی، داسې ښکارېده چې د لاهور ټولو وګړو "جاويد منزل" ته مخه کړې د خپل محسن او خواخوږي د وروستي ديدار دپاره تر ماځيګره د اوښکو ډکې سترګې وګړي راتله.

ماځيګر پر پينځه بجې د شهادت د کليمې په ږوږ کې جنازه را پورته شوه، د پينځوسو شپېتو زرو وړه ورکوونکو کې څوک وو چې دلته نه وو. د غمجنو په دغه لويه ډله کې ديندا‌ره، دنيادا‌ره، شتمن، نېستمن، عالمان، نالوستي، سپين ږيري، ځوانان

او واړه شامل وه، يواځې مسلمانان نه د هر مذهب و ملت خلک موجود وه. د شپې اته بجې د پادشاهي مسجد په صحن کې د جنازې لمونځ وشو. پاوکم لسو بجو ته نږدې دغه نوميالی خاورو ته و سپارل شو. د قبرو يوه اړخ ته څرمه شاهي مسجد او و دا بل اړخ ته پر لړ واټن شاهي قلا، يو د ديني شکوې ښکارندوی او دويم د دنياوي لوړتيا نخښه. د خدای شان دی چې اقبال تر کله ژوندی وو دا دواړه يې د خپلو مرتبو سره تړلي وه او چې مړ شو نو ښخېده يې هم داسې ځای وشوه چې د دين او دُنيا مثالي توازن يې په سترګو ليدل کيږي.

# کتابونه او ماخذونه


۞ آزاد جگن ناتھ : محمد اقبال ایك ادبی سوانح حیات، نوی ډیلی ماډرن پبلشنگ هاوس، ۱۹۸۳ع.

۞ احمد دین : اقبال- مرتبه مشفق خواجه کراچی. انجمن ترقی اردو پاکستان ۱۹۷۹ع.

۞ اختر قاضی احمد میاں: اقبالیات کا تنقیدی جائزه. کراچی اقبال اکادمی ۱۹۶۵ع.

۞ افضل محمد رفیق (مرتب): گفتار اقبال لاهور اداره تحقیقات پاکستان ۱۹۷۷ع.

۞ اقبال سر محمد : اقبال نامه (لومړی ټوك) مرتبه شیخ عطاوالله- لاهور شیخ محمد اشرف ۱۹۴۴ع.

۞ اقبال سر محمد : اقبال نامه (دویم ټوك) مرتبه شیخ عطاوالله- لاهور شیخ محمد اشرف ۱۹۵۱ع.

۞ اقبال سر محمد : باقیات اقبال، مرتبه سید عبدالله لاهور- آئینه ادب ۱۹۶۶ع.

۞ اقبال سر محمد : علم الاقتصاد - لاهور اقبال اکادمی پاکستان ۱۹۷۷ع.

۞ اقبال سر محمد : کلیات اقبال (فارسی) لاهور- اقبال اکادمی پاکستان ۱۹۹۰ع.

۞ اکبر آبادی میکش: نقد اقبال- لاهور آئینه ادب ۱۹۷۰ع.

۞ برنی سید مظفر حسین (مرتب): کلیات مکاتیب اقبال (لومړی، دویم او دریم ټوکونه)، ډیلی اردو اکادمی ۱۹۸۹ع.

- جاوید اقبال: زندہ رود۔ لاہور شیخ غلام علی۔ ۱۹۹۸ء۔
- درانی سعید اختر: اقبال یورپ میں۔ لاہور اقبال اکادمی پاکستان **۱۹۸۵**ء۔
- ڈار بشیراحمد (مرتب): انوار اقبال۔ لاہور اقبال اکادمی پاکستان ۱۹۷۷ء۔
- زور سید محی الدین قادری (مرتب): اقبال بنام شاد۔ لاہور۔ بزم اقبال ۱۹۸۲ء۔
- سید وحیدالدین فقیر: روزگار فقیر (لومڑی تہوك) کراچی لائن آرٹ پریس ۱۹۶۶ء۔
- سید وحیدالدین فقیر: روزگار فقیر (دویم تہوك) کراچی لائن آرٹ پریس ۱۹۶۶ء۔
- صدیقی۔ افتخار احمد: عروجِ اقبال۔ لاہور۔ بزم اقبال ۱۹۸۷ء۔
- صلاح الدین احمد مولانا: تصورات اقبال۔ مرتبہ معزالدین احمد علي گڑھ ایجوکیشنل بك هاوس ۱۹۷۴ء۔
- صوفی خالد نظیر: اقبال درونِ خانہ۔ لاہور بزم اقبال ۱۹۷۱ء۔
- عبدالحکیم خلیفہ: فکر اقبال۔ لاہور بزمِ اقبال ۱۹۸۸ء۔
- عزیز احمد: اقبال نئ تشکیل۔ لاہور گلوب پبلشرز ۱۹۶۸ء۔
- فاروقی محمدحمزہ: حیات اقبال کے چند مخفی گوشے۔ لاہور ادارہ تحقیقات پاکستان ۱۹۸۸ء۔
- فروغ احمد: تفہیم اقبال۔ کراچی۔ اردو اکیڈمی سندھ **۱۹۸۵**ء۔
- گیان چند۔ ڈاکٹر: ابتدائی کلام اقبال بہ مہ و سال۔ حیدرآباد دکن اردو ریسرچ سنٹر ۱۹۸۸ء۔

- محمد علي شيخ: نظريات و افكار اقبال- اسلام آباد نيشنل بك فاؤنڈيشن ۱۹۸۳ع.
- معين سيد عبدالواحد (مرتب): مقالات اقبال لاهور – شيخ محمد اشرف ۱۹۸۲ع.
- منور محمد: ايقان اقبال- لاهور اقبال اكادمی پاكستان ۱۹۸۸ع.
- منور محمد: برهان اقبال- لاهور اقبال اكادمی پاكستان ۱۹۸۲ع.
- منور محمد: ميزان اقبال- لاهور اقبال اكادمی پاكستان ۱۹۸۲ع.
- مير غلام رسول، صادق علی دلاوری (مرتبين): سرود رفته – لاهور كتاب منزل ۱۹۵۹ع.
- ندوی ابوالحسن علی: نقوش اقبال مترجم شمس تبريز خان كراچی مجلس نشريات اسلام ۱۹۷۳ع.
- ندوی عبدالسلام: اقبال كامل- راولپنڈی كامران پبلی كيشنز ۱۹۸۸ع.
- نذير نيازی سيد: اقبال كے حضور- كراچی اقبال اكادمی پاكستان ۱۹۷۱ع.
- نذير نيازی سيد: دانائے راز- لاهور اقبال اكادمی پاكستان ۱۹۸۸ع.
- هاشمي ڈاكٹر رفيع الدين: تصانيف اقبال كا تحقيقی و توضيحی مطالعه- لاهور اقبال اكادمی پاكستان ۱۹۸۴ع.
- يوسف حسين خان ڈاكٹر: روح اقبال- لاهور- آئينه ادب ۱۹۶۵ع.

1) DAR. B. A. (Comp).
Letters of Iqbal, Lahore: Iqbal Academy Pakistan, 1978.
2) DAR. B. A. (Comp).
Letters And Writings of Iqbal, Lahore: Iqbal Academy Pakistan, 1981.
3) DAR. B. A.
Study of Iqbals Philosophy, Lahore: Sh. Ghulam Ali 1971.
4) Hafeez Malik (Comp).
Iqbal, Poet Philosopher of Pakistan, New York Columbia University Press 1971.
5) Iqbal, Sir Mohammad.
Development of Meta Phijsics in Persia, Lahore: Bazm-e- Iqbal 1964.
6) Iqbal, Sir Mohammad.
The reconstruction of religious thought in Islam, Lahore: Iqbal Academy Pakistan, 1989.
7) Masud ul Hasan.
Life of Iqbal, Lahore Feroz Sonz. Ltd. 1978.
8) Munawwar, Mirza Mohammad.
Iqbal and Quranic Wisdom, Lahore. Iqbal Academy Pakistan, 1985.
9) Schimmel, Annemorie.
Gabriels wing, Lahore: Iqbal Academy Pakistan, 1989.
10) Shahin, Rahim Bakhsh (Comp).
Mementos of Iqbal, Lahore: All Pakistan Education Congress, 1975.
11) Sharif Al Mujahid.
The Poet of the East: The story of Mohammad Iqbal, Karachi, Oxford University Press, 1961.

# زياتونې

په را روانو مخونو کې به د علامه اقبال د ژوندانه ځينې مهمې پېښې سره د ده د واړو تصانيفو د فهرست سره وړاندې شي. د علامه اقبال د عمومي مطالعې دپاره دغه بنيادي معلومات ګټور او کومکي ثابتېدلای شي. (مؤلف)

***لومړی زياتونه:***

## د اقبال د ژوند هينداره

۱۸۷۷ع:۹ نومبر ☆ د اقبال زېږېدنه په سيالکوټ کې.

۱۸۹۱ع: ☆ د سکاچ مشن هائی سکول سيالکوټ څخه د اتم صنف په امتحان کې بريالی شو.

۱۸۹۲ع: ☆ د باقاعده شاعرۍ پيل.

۱۸۹۳ع: ☆ د سکاچ مشن هائی سکول سيالکوټ څخه د لسم ټولګي په ازموينه کې په لومړۍ درجه کې بريالیتوب.

۱۸۹۵ع: ۴ مئ ☆ د کريم بي بي (مړينه ۲۰ نومبر ۱۹۴۶ع) سره يې واده وشو.

// : ☆ د سکاچ مشن کالج سيالکوټ څخه د دولسم ټولګي له ازموينې په دويمه درجه کې فارغ شو.

۱۸۹۸ع: ☆ د ګورنمنټ کالج لاهور څخه د دوولسم ټولګي په ازموينه کې په دويمه درجه کې بريالیتوب.

۱۸۹۹ع: ☆ د ګورنمنټ کالج لاهور څخه یې په فلسفه کې شپاړسم صنف په درېیمه درجه سره پاس ته و رساوه.

// : ۱۳ مئ ☆ د لاهور په یونیورسټی اورینټل کالج کې مېکلوډ عربک ریډر و ټاکل شو.

۱۹۰۰ع: ۱۴ فروري ☆ په لاهور کې یې د انجمن حمایت اسلام په کالنۍ غونډه کې په لومړي ځل خپل نظم (نالهٔ یتیم) "د یتیم ژړا" واوراوه.

۱۹۰۱ع: ۱جنوري ☆ په اسلامیه کالج لاهور کې د شپږو میاشتو دپاره د انګلیسي ژبې ښوونکی مقرر شو.

۱۹۰۲ع: ۱۳اکتوبر ☆ د لاهور په ګورنمنټ کالج کې د شپږو میاشتو دپاره د انګلیسي ژبې استاد مقرر شو.

۱۹۰۳ع: ۳جنون ☆ په ګورنمنټ کالج لاهور کې د فلسفې په څانګه کې اسسټنټ پروفیسر وټاکل شو.

۱۹۰۵ع: ۱ستمبر ☆ د لوړو زدکړو دپاره اروپا ته رهي شو.

۱۹۰۷ع: ☆ د کېمبرج څخه یې د بي اې سند تر لاسه کړ. د جرمني د میونخ پوهنتون د دکتورا (پي ایچ ډي) سند ورکړ.

۱۹۰۸ع: ۲۲جنوري ☆ د ډایریکټر پبلک انسټرکشن په نوم یې په یوه لیک کې د ګورنمنټ کالج لاهور د ټاکلي وظیفې (رتبې) څخه استعفٰی ور ولېږل.

// : ۱ جولای ☆ د لنکنزان لندن څخه یې د بېرسټرۍ سند تر لاسه کړ.

// : ۲۷جولای ☆ د اروپا څخه بېرته لاهور ته را ورسېدی.

۱۹۱۰ع: ☆ د سردار بېګم (د جاوید اقبال مور) سره یې واده وسو، خو را ولاړه یې په ۱۹۱۳ع کې کړه.

۱۹۱۱ع: اپرېل ✮ د انجمن حمايت اسلام په کالنۍ غونډه کې يې نظم "شکوه" واوراوئ.

// : ✮ په علي ګړه پوهنتون کې يې په انګليسي ژبه خطبه The Muslim Community "پر ملت بيضا باندې يو عمراني نظر" وړاندې کړه.

۱۹۱۲ع:۱٦اپرېل✮ د انجمن حمايت اسلام په کالنۍ غونډه کې يې نظم "شمع او شاعر" واوراوئ.

// :۳۰نومبر ✮ د لاهور د موچي دروازې دباندې يې په يوه عمومي غونډه کې نظم "جواب شکوه" وړاندې کړ.

۱۹۱۳ع: ✮ د مختاربېګم (لدهيانه) سره يې واده وشو.

// :۹ نومبر ✮ مور امام بي بي يې په سيالکوټ کې په حق ورسېده.

۱۹۲۲ع:۱٦اپرېل✮ د انجمن حمايت اسلام په غونډه کې يې نظم "خضر راه" وړاندې کړ.

۱۹۲۳ع:۱جنوري✮ د دولت د خوا د "سر" په خطاب ولمانځل شو.

// :۳۰مارچ ✮ د انجمن حمايت اسلام په غونډه کې يې نظم "طلوع اسلام" (د اسلام څرک) وړاندې کړ.

۱۹۲٦ع:۲۳نومبر ✮ د پنجاب د قانون جوړونکي سازمان غړی وټاکل شو.

۱۹۲۸ع: جنوري ✮ په مدارس، بنګلور، ميسور او حيدرآباد دکن کې يې په غونډو کې په انګليسي ژبه خطبې وړاندې کړې.

۱۹۳۰ع:۲۹نومبر✮ د ټول هند د مسلم لیګ په کالنۍ غونډه کې يې په اله آباد کې د يوه بېل اسلامي هېواد تصور وړاندې کړ.

۱۹۳۱ع: نومبر ☆ په لندن کې جوړ شوی د ګردي مېز په دویم کانفرانس کې ګډون.

// :۲۸نومبر ☆ په روم کې د اټالیا د ټولواک مسولیني سره ملاقات.

// :۷دسمبر☆ په بیت المقدس کې جوړ شوی د موتمر عالم اسلامي په غونډه کې ګډون.

۱۹۳۲ع:نومبر ☆ په لندن کې جوړ شوی د ګردي مېز په دریم کانفرانس کې ګډون.

۱۹۳۳ع:جنوري ☆ په پاریس کې د نامتو فلسفي برګسان سره ملاقات.

// : ☆ د هسپانیې سفر او د قرطبې د جومات زیارت.

// :اکتوبر نومبر☆ د افغانستان د شاه په بلنه د افغانستان سفر.

// :۴دسمبر ☆ د پنجاب پوهنتون د ډي لټ (ډاکټر اف لټرېچر) اعزازي سند ورکړ.

۱۹۳۴ع:۱۰جنوري ☆ د کوچني اختر په ورځ یې په مستو کې ماچې (سویان) وخوړې، ږغ یې پرېواتی اوږده ناروغي یې پیل شوه.

۱۹۳۵ع: ☆ د برقي علاج دپاره یې څو واره بهوپال ته سفر وکړ.

// : ☆ و خپلې شخصي نوې جوړې کړې مېنې "جاوید منزل" ته په کډه ورغلی.

// :۲۳مئ☆ کورودانه (د جاوید اقبال مور) یې په حق ورسېده.

// :۲۹جون ☆ د سرهند شریف سفر، ماشوم زوی جاوید اقبال هم ورسره وو.

۱۹۳٦ع: ☆ د پنجاب مسلم لیګ صدر وټاکل شو.

۱۹۳۸ع:۲۱اپرېل ☆ سهار پر پینځه بجې یې په "جاوید منزل" کې پور پرې کړ.

*دويمه ضميمه :*

## د اقبال تصانيف

تش د لومړي وار د خپرېدو کلونه يې راوړل کيږي.

## شاعري

*فارسي :*

- اسرار خودی ۱۹۱۵ع
- رموز بیخودی ۱۹۱۸ع
- پیامِ مشرق ۱۹۲۳ع
- زبور عجم ۱۹۲۷ع
- جاویدنامه ۱۹۳۲ع
- مسافر ۱۹۳۴ع
- مثنوی پس چه باید کرد اے اقوام مشرق ۱۹۳٦ع

*اُردو :*

- بانگِ درا ۱۹۲۴ع
- بال جبریل ۱۹۳۴ع
- ضرب کلیم ۱۹۳٦ع

فارسي او اُردو :

- ارمغانِ حجاز ۱۹۳۸ع

# نثر

**اُردو:**

- علم الاقتصاد لاهور نومبر ۱۹۰۴ع
- مقالات اقبال مرتب سید عبدالواحد معینی لاهور ۱۹۶۳ع

د تصدق حسین تاج ترتیب شوي واړه د مضمونونو مجموعې "مضامین اقبال" (حیدرآباد دکن ۱۹۴۳ع) واړه اردو مضامین او مجموعې پکې شاملې دي.

- گفتار اقبال مرتب- محمد رفیق افضل لاهور ۱۹۶۹ع
- شاد اقبال مرتب- محی الدین قادري زور حیدرآباد دکن ۱۹۴۲ع.
- اقبال نامه، لومړی، مرتب- عطاوالله لاهور ۱۹۴۴ع
- اقبال نامه، دویمه، مرتب- عطاوالله لاهور ۱۹۵۱ع
- مکاتیب اقبال د محمدنیازالدین خان مرحوم په نوم لاهور ۱۹۵۴ع.
- مکتوبات اقبال مرتب- نذیر نیازی کراچي ۱۹۵۷ع
- انوار اقبال مرتب- بشیراحمد ډار کراچي ۱۹۶۷ع
- مکاتیب اقبال بنام گرامي، مرتب- محمدعبدالله قریشي کراچي ۱۹۶۹ع.
- خطوط اقبال مرتب- رفیع الدین هاشمي لاهور ۱۹۷۶ع
- مکاتیب اقبال بنام بیگم گرامي، مرتب- حمید الله هاشمي فیصل آباد ۱۹۷۸ع.
- اقبال وجهان دیگر، مرتب- محمد فریدالحق ایډوکیټ

کراچي ۱۹۸۳ع.

- نگارشاتِ اقبال، مرتب- زیب النساء لاهور ۱۹۹۳ع

***انګلیسي:***

- The Development of Metaphysics In Persia.

لندن ۱۹۰۸ع.

- The Reconstruction of Religious Thought In Islam.

لندن ۱۹۳۴ع

شپږ خطبې يې په لومړي ځل د لاهور څخه په ۱۹۳۰ع کې خپرې شوې.

- Thoughts And Reflection Of IQBAL.

لاهور ۱۹۶۴ع مرتب ایس اے واحد

لاهور ۱۹۶۱ع مرتب جاوید اقبال Stray Reflections

- Speeches, Writings And Statements Of IQBAL.

لاهور ۱۹۷۷ع مرتب، لطیف احمد شرواني.

د اقبال هغه وړې انګلیسي لیکنې، تقریرونه چې دمخه د بېلابېلو مجموعو په بڼه کې د چاپه راوتلې وې تولې په دغه مجموعه کې را یو ځای شوي.

لاهور ۱۹۷۸ع مرتب بشیراحمد ډار Letters Of IQBAL

*دريمه زياتونه:*

## په پښتو کې د اقبال منظومې ژباړې

**[د اقبال پر فکر، فن او شخصيت باندې په پښتو کې په سوونو مقالې تر اوسه چاپ شوي دي، همدا ډول يو شمېر ځانګړي کتابونه چاپ شوي دي، خو دلته، په پښتو کې د اقبال د منظومو آثارو د پښتو ژباړو يادونه کېږي.]**

### (د اقبال اردو منظوم اثار)

بانګ درا ۞ د راحت زاخېلي ژباړه، اقبال اکادمي کراچۍ ۱۹۲۳ء
۞ شېرمحمد مينوش، ناچاپه.
شکوه جواب شکوه، يونيورسټۍ بك ايجنسۍ، پېښور.
شکوه جواب شکوه، عبدالغني شهاب، ناچاپه
شکوه جواب شکوه، مولانا صاحب حق، مردان ۲۰۰۲م کال.

بالِ جبريل ۞ عبدالله جان اسير، "پلوشه" انجمن پريس کراچي، ۱۹۵۹م کال.
۞ عبدالحليم اثر، اقبال اکادمي کراچي، ۱۹۲۷م کال.
۞ شېرمحمد مينوش، ناچاپه.

ضربِ کليم ۞ سيدمحمد تقويم الحق کاکاخېل، اقبال اکادمي کراچي، ۱۹۲۷م کال.
۞ شېرمحمد مينوش، يونيورسټۍ بك ايجنسۍ، پېښور.

ارمغانِ حجاز ۞ امير حمزه شينواری، اقبال اکادمي کراچي، ۱۹۲۴م کال.

### (د اقبال فارسي منظوم اثار)

اسرارِ خودي ۞ سمندرخان سمندر، پاکستان پبليکېشنز کراچي، ۱۹۵۴م کال.
رموزِ بيخودی ۞ سمندرخان سمندر، پاکستان پبليکېشنز کراچي، ۱۹۵۲م کال.
پيامِ مشرق ۞ شېرمحمد مينوش، اقبال اکادمي کراچي، ۱۹۲۳م کال.
زبورِ عجم ۞ سيدمحمد تقويم الحق کاکاخېل، اقبال اکادمي کراچي، ۱۹۲۱م کال.
۞ شېرمحمد مينوش، ناچاپه.
جاويدنامه ۞ اميرحمزه شينواری، اقبال اکادمي کراچي، ۱۹۲۷م کال.
پس چه بايد کرد ای اقوامِ شرق معه مسافر: سيد محمد تقويم الحق کاکاخېل، اقبال اکادمي کراچي، ۱۹۲۷م کال.

پای